لنډې کیسې

# معجزه

Dowmloaded From :
Telegram : Aryan Pashto Library
WhatsApp : 00971501455350
Facebook Page : آریان پښتو کتابتون



نصرت ارمان

راځئ ملګرو زموږ په دې شاته پاته ټولنه کې ، کتاب
لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل آزاد ، ارام او سوکاله
ژوند ولري .!

په درښت | آریان پښتو کتابتون

# معجـزه

لنډې کیسې

نصرت ارمان

بسم الله الرحمن الرحيم

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

کتاب پېژندنه :

نوم : معجزه

لیکوال : نصرت ارمان

د پښتې ډیزاین : کمال خان بابا

خپرندوی : مازیګر کتاب پلورنځی

چاپ کال : ۱۳۹۴ل/2015م

چاپ شمېر : ۱۱۰۰

خپرونو لړ: ۴۰

د چاپ حقوق خوندي دي

مازیګر کتاب پلورنځی، جلال اباد- اسحاقزی مارکېټ، ځمکنله- ۰۷۹۸۰۴۰۹۱۰

دا کتاب ( معجزه لنډې کیسې ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو ورونړو او خویندو ته دي ډالی وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ ...!

ډ الـــې !

چې کیسه یې راوښودله او کیسه لیکنې ته یې تشویق کړم !

ن. ارمان

دا کتاب ( معجزه لنډې کیسې ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو ورونو او خویندو ته دي ډالۍ وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ ...!

# څوټکي

((مخ او کالي یې په خاورو ککړ وو، په یوه ساه یې ښلچه وهله او د قبر خاوره یې بېره غورځوله، کله چې ښلچه د تېږې سره ولګېده، یو برېښوونکی اواز پورته شو، چې د هډیرې درنه چوپتیا یې ماته کړه، ویې موسل، په خوارۍ یې اوږدې او پلنې ډبرې لرې کړې، د ډار ټولې لارې یې پر مخ تړلې وې، جامې یې وویستې او ورخملاست.
ناڅاپه هلته سپین پړق شو، ګناهګار یو بې ژونده ټاپو ته وغورځېد، چې ګردو خوا ته ترې اوبه بهېدې، انسان څه چې حیوان هم نه لیدل کېده.))
دا د ځوان لیکوال ښاغلي نصرت ارمان د یوې کیسې پیل دی. د پیل دې څو ټکو مې په ذهن کې لسګونه پوښتنې را ولاړې کړې.
دا سړی څوک دی؟ مخ او کالي یې ولې په خاورو ککړ دي؟ د قبر خاوره ولې کېندي؟ قبر د چا دی؟ دا سړی له دې مړي سره څه ارتباط لري؟ له څه وېرېده؟.... په راتلونکي کې به څه ور پېښ شي؟ څه خبره ده؟ او....په لسګونو نورې پوښتنې،.داسې پوښتنې چې ما یې ځوابونه غوښتل، بله لاره نه وه، دې یوه پاراګراف اړ کړم چې ټوله کیسه ولولم.
په دې ښلګه کې قوي خبره او داسې څه چې وروسته تشریح ته اړتیا لري او اوریدونکی تر پایه ورسره ساتي، په پیل کې وشوه. هر هغه پیل چې د لوستونکي په ذهن کې پوښتنې را ولاړې کړي، دا زور لري چې کیسه تر پایه پرې ولولو.

دا یوائې یوه بېلګه وه، د ښاغلي نصرت ارمان ټولې کیسې له تلوسې ډک پیل لري او دا پیل د دې لامل ګرځي چې کیسه تر پایه پورې دربانديې ولولي.

((ښښنه، د بوټانو ترپا، پټ مخي، لسګون، امتحان، ګورګوره،....))
دا د ښاغلي نصرت ارمان د کیسو نمونه دي.

یو وخت مې د یوې مجلې پاڼې سره اړولې، یوه کیسه مې پیدا کړه، لیکلي و:

لنډه کیسه

ځوانیمرګ

که دا نوم واورو، په ذهن کې به مو څه را وګرځي؟

که نور نه وي نیمه کیسه خو راته روښانه شوه، په دې خو وپوهیدو چې یو څوک به وژل کیږي، یا به هم په خپله مري، هغه هم په ځوانۍ کې!

"ارمان یې پوره شو، شهید، نیمه خوا مینه، دوې جنازې..او داسي نور."

دا هغه نومونه دي، چې د کیسې تلوسه له مینځه وړي، لوستونکی مخکې له مخکې د کیسې په محتوا پوهیږي، د کیسې له ویلو خوند نه اخلي. خو د دې ټولګې د ډېرو کیسو نومونه داسې نه دي، ((ښښنه، د بوټانو ترپا، پټ مخي، لسګون، امتحان، ګورګوره،....)) دا نومونه کیسه نه روښانه کوي، تلوسه یې له مینځه نه وړي، بلکې برعکس، ښاغلي ارمان خپلو لنډو کیسو ته هغه نومونه ټاکلي چې تلوسه لري او لوستونکی مجبوروي چې کیسه تر پایه پورې ولولي.

د کیسې نوم ډېر ضروري دی، ډېر وخت یوائې نوم د دې لامل کیږي چې پر یو چا کیسه ولولو.

تاسو به په تلویزیونونو کې تجارتي اعلانونه لیدلي وي، سوداګر د

دې لپاره اعلان کوي چې خپلو تجارتي اجناسو ته خريدار پيدا کړي، دوی د اعلانونو د جوړولو او خپرولو لپاره لګښت په غاړه اخلي، له اعلان جوړوونکو غواړي دا سې اعلان ورته جوړ کړي چې د ليدونکو پام ور واړوي، په بله مانا سوداګر د اجناسو د پلورلو له پاره تبليغ کوي، د کيسې نوم هم همدا سې دی، که يې مانا او تلوسه درلوده، کيسې ته تبليغ دی، په ډېرو يې لوستی شي.

ښاغلي ارمان خپلو کيسو ته همدا سې نومونه ټاکلي دي، په ډېرو يې لوستی شي.

د ښاغلي ارمان د لنډو کيسو ژبه:

د يوې کيسې له مينځه يوه بېلګه:

((وروستي ريز ورکولو سره شېبه وروسته دواړو ته لنډ شوم، هغوی عمومي سرک ته نږدې کېدو کې وو، د کمر وروستۍ برخه مې انتخاب کړه، اړخ ته کېدو سره يې ماته لار پرېښوده، رفتار مې کرار کړ د سرک منځۍ ته شوم، توله مې پرې ورتاوه کړه او ورسره په لګېدو مې هغوی په کمر ور وغورځول، خپله هم روغ پاتې نشوم، د ښۍ وروستۍ برخه مې د ماشين لاندې شوې وه او درد يې نا قراره کړی وم.))

ځينې ليکوالان چې څه ليکې، د ليکلو لپاره په پېچلو کلماتو او اصطلاحاتو پسې ګرځي، کتابونه پسې ګوري او له نورو څخه پوښتنې کوي. دوی په دې فکر کې دي چې مغلق او پيچلي کلمات کيسه او يا هم کومه بله ليکنه پياوړې کوي او په دې سره پخپله ليکوال پوه او د ډېرې مطالعې خاوند ښکاري، خو پوښتنه داده چې مورږ د چا له پاره کيسه او يا هم کومه بله ليکنه ليکو؟ ايا هغوی په دا ډول پېچلو کلماتو پوهيږي؟ ايا د مغلقو تورو کارول هنر دی؟

ارمان صيب دې ټکي ته پام کړی، په ټولو کيسو کې به يې دا سې

ټکی ونه مومو چې مغلق او یا هم نا اشنا وي، نوموړي په داسې ژبه کیسې لیکلي دي چې هر پښتون پرې پوهېدای شي. د کیسو ژبه یې ساده او روانه ده، جملې یې لنډې او له مانا ډکې دي، همدا ساده او لنډې جملې دي چې د ارمان صیب نثر ته یې ښکلا ور بښلې ده.

ارمان صیب په کرکټر کښنه کې هم پوره وړتیا لري، د ده له کیسو څخه وپوهېدم چې په کرکټر کښنه کې ډېر زیار باسي، دی کرکټر تر هغو په ذهن کې اړوي را اوړي چې له خیالي کرکټر څخه ژوندی موجود جوړ کړي، د هغه له ظاهري او باطني جوړښت سره اشنا شي او وروسته یې په داستان کې ولوبوي.

د ارمان صیب کیسې فلسفي رنګ لري، په هره کیسه کې یې یو هدف او واضع پیغام نغښتی دی، داسې یو پیغام چې لوستونکی ډېر ځه ترې زده کولای شي. د کتاب په ټولو کیسو او د کیسو په اړخونو غږېدل اوږدې خبرې غواړي، ما یې یوائې یو څو اړخونه را واخیستل، په هر صورت، ارمان صیب لا تنکی ځوان دی، ده ته په ادبیاتو کې لا نوره ډېره لاره په مخ کې پرته ده، خو تمه لرم چې دا ځوان به په دې سفر کې ډېر بریالی وي.

په مینه

نصیراحمد احمدي

# تاسې ته کیسې

ما کیسه نه پېژنده خو لیکلې مې شوه، کله مې چې ژوند کیسه وګڼله، نو کیسه مې وپېژندله، د ژوند شېبو ته مې فکر شو او وپوهېدم چې د هر چا ژوند د هغه خپله کیسه ده.

زما د کیسو سوژې له کرکې، درد، غم او ویره ډکې وې، خو ما داسې شېبې هم لرلې چې هلته مینه، خوښي او خندا وه.

دا کیسې تاسو ته هغه څه ښيي، چې ټول ورته ضرورت لرو، قرباني، مرسته، هدف، مبارزه او مینه انځوروي.

کوشش مې کړی هره کیسه له هیلې او بري سره مله ولیکم، انسان د ژوند کرکټر دی او هغه باید تل د کامیابۍ په لور د تلو تکل وکړي.

موږ ماتې خوړلې، له مرګونو او وینو تویولو په زړه چاودلې یو او له یو بله تېښته کوو، خو له ماتې وروسته بری وي او غواړم په کیسه کې د بري په لار لاړ شم.

د هېواد وتلې خوږژبې لیکوال احمدي صیب دې کور ودان وي چې زما کیسې یې ولوستې او لیکنه یې پرې راته وکړه، د هغه د لیکنې لوستو وروسته وپوهېدم چې دا ځل مې په هره کیسه کړې هڅه پر ځای لګېدلې او زه توانېدلی یم چې کیسه په هماغه ډول ولیکم چې زه یې غواړم.

د کمال بابا هنرمندو ګوتو د کتاب پښتۍ جوړه کړه، زه د هغه د کار او دوستۍ خوښوونکی یم، هغه ته اوږد ژوند غواړم.

تاسې ته کیسې.

نصرت ارمان

۲۰۱۵/جولای/۲

# شپېلۍ

د غره له پيدا ښته څوک نه وو خبر خو د زرکي له نومولو وروسته يې ۵۰۰ کلونه تېر شوي و ، د غره په پرخو او کړليچونو کې د زرکو کوم کور نه شته، خو د لمر غروب ته په لنډېدو سره هره ورځ غره نه د شپيلۍ له ساز سره يو ځای د زرکو له راپورته کېدونکو سندرو دا سې ايسېږي چې زرکی غر د زرکو له شوره ډک کور دی.

تر تياري خورېدو زرکې سندرې وايي او مستۍ يې غر په خوځېدا راوستی وي ، په غره کې د ښکاري او ميينو زرکو په اړه تېره شوې کيسه هر چاته په زړه پورې ده.

***

۷۰ کلن جادوګر ښکاري به شنه بخنه لونګۍ په سر اېښې، د تياري له خورېدو مخکې په موسکو شونډو د غره له اړخه په داسې حال را روان و، چې دوه ميله ښکاري چريېز به يې په اوږه ځړېدلی و ، د کړکې زړه شپېلۍ به يې غاړه کې په ټاليو وه او دواړو لاسو کې به يې ښکار کړې زرکې نيولې وې.

ښکاري به د غره لوړو واورينو څوکو ته له پورته کېدو وروسته هر مازيګر شپيلۍ غږوله، چې ساز به يې په ليونيو څپو نيول شوې ميينې زرکې ځان ته له هره خوا راکشولې.

زرکې به د شپيلۍ تر بندېدو وروسته هم د ساز په مينه کې ډوبې وې او بيا به د ښکاري له ډز سره په وزرو پړقولو خپلو لرېو کورونو ته په تښتېدو شوې، دا شېبه به ښکاري دوه تر ټولو ښکلې او غوښينې زرکې ويشتلې وې.

ښکاري ډېرې زرکې ښکار کړې او زرکو د شپيلۍ له ساز سره د مينې له وجې تر کلونو په ځان قرباني ومنله او ډېر و روسته وپوهېدې چې په

زرګونو کورونه بې زرکو شوي، میندې کونډې شوې، خویندې بې وروره شوې او بچي فریادونه کوي.

له مشورې وروسته یې ښکاري نه د شپیلۍ تر لاسه کولو فیصله وکړه او د خپلو قربانیود بدل اخیستو لپاره له ساز شروع کېدو نه مخکې په قهر غره ته راروانې شوې.

ښکاري د ناستې ځای ته رسېدو سره له نورو ورځو برعکس په زرګونو زرکې ولیدې او د هغوی سترګو ته په کتو یې په نزدې ضعیفه شوې بدن لړزه پیدا شوه، لکه هغه چې پوهیدلی وي نن زرکې د مینې ساز کې له ډوبېدو مخکې بل څه کول غواړي.

هغه زر شپیلۍ ته لاس کړ په شونډو یې لا ایښې نه وه چې یو زرک یې په منښوکه شونډه ورخېږې کړه، چې ورسره له هرې خوا ښکاري په ځېږېدو او سوزېدو شو، د هغه د هډوکو کالبوت په ځمکه پرېوت او زرکو په خونې شپیلۍ واخیسته، ډېرو پرې خپله هڅه وکړه، خو له هغې یې کوم ساز راونه شو ویستی.

هغوی و پوهېدې چې یواځې د ښکاري ګوتو او شونډو د شپیلۍ له سازه هغوی ته د مینې نغمه جوړوله ، د خپل کار په نتیجې پوهېدلو سره یې په ګډه د پښیمانۍ یوه له درده ډکه چغه وکړه، د ښکاري د بدن لاندې غر په منځ وشکېده او د هغه جسد له شپیلۍ، ټوپک او مېینو زرکو سره یو ځای د غره په سینه ننوت.

وروسته له غره د راوتونکې ساز په اړه دا کیسه مشهوره شوه چې ښکاري زرکې ښښلي او د هغوی دمینې د ستاینې لپاره ترننه شپیلۍ غږوي.

# لسګون

دېره کې د سور موټر درېدو سره ماشوم له لوبو پاڅېد او ورمنډه یې کړه، د نیکه له پخواني ملګري مراد سره یوځای ترې د ښکلې بشرې لرونکې ماشومه هم راکوزه شوه.

هلک له میلمنو سره ستړي مشي وکړل او بیا یې سترګې جینۍ کې ډوبې پاتې شوې.

مراد ماشومې ته مخ کړ؛

-دا قمر دی.

-څومره ښایسته نوم، بیخي ماته ورته، ماشومې وویل.

مراد وخندل بیا یې د قمر په سر لاس تېر کړ؛ لور مې ده، لمرینه.

قمر د جینۍ له نوم اورېدو وروسته ومنله چې د خپل نوم په شان ښکلې او په لومړي ځل د دوی میلمنه شوې.

بیا په ګډه کورته ننوتل.

تر چایو وروسته لمرینه لکه پوهېدلې چې وي په ژبه یې یواځې قمر پوهېدلی شي او هغه یې دلته تېرېدونکې شېبې په خوشالۍ ورتېرولی شي.

دواړه په ناز کلي مخ ته ووتل، قمر ته داسې ایسیده چې کلی مخکې د نن له خوښیو بې برخې و، لمرینې په شنو ونو او بوټو کې د ناستو مرغیو شور ته د څه شېبې غوږ کېدو وروسته سترګې خوا او شا و ګرځولې، د دوی له موټره د کلي خیرن او بېر سري ماشومان ګرد تاوېدل او په موټر د لاس وهلو سره به یې موسېدلو د لمرینې زړه نرمولو.

قمر لمرینې ته د خوښۍ ورکولو لپاره هغه شګلنې ویالې ته یوړه چې د کلي ماشومانو به یې په غاړه برجونه جوړول، لمرینه د ویالې په غاړه

کېناسته او په اوبو کې د پښو ډوبولو وروسته يې چې ور وليدل فکر يې کولو ځلېږي.

لمرينې ته په هر ځل کتو به قمر ته نوره هم ښکلې ښکارېده، په خوښۍ يې د برج په جوړولو شروع وکړه او له مخکې ورځو په ډېرې خوارۍ يې کار وکړ.

د لمرينې نرۍ ګلابي شونډې د يوې شېبې لپاره هم د موسکاوو نه بې برخې کېدې او نه پوهېده چې څو شېبې وروسته به د شګو کلی څه چې له ختينو د پوالونو غټه کلا هم نشي ليدی، هغوی يو بل سره د وخت په تېرېدو پوی نشول.

ورېځې د کمره له سره راتېرې شوې او ورو ورو کلي ته رالنډېدې، دواړو ځانونه و څنډل او کورته يې منډې کړې، لمرينه د پلار په ليدو په خوښۍ ورغله، هغه د تلو تابيا نيولې وه.

قمر د حالت درکولو وروسته داسې شو لکه په ځمکه چې ننوځي، په يوه شېبه کې يې ننۍ پېښې سترګو ته ودرېدې اوبيا په ځان پوی نشو، لمرينه هغه ته په ډکو سترګو له کتو وروسته پلار پسې روانه شوه......

د نيکه کنځلو قمر را په هوښ کړ، له سترګو ګرځولو وروسته يې نيا په سرو سترګو د پوال ته ناسته وليده، د هغې پښو سره د پروت لسګون په کتو دستي ورياد شول چې لمرينې يې نيا سره کلي مخ ته وتو نه مخکې پرېښی و.

مور يې د کلا له برجه راغږ کړ: موټر يې د کمره سرک ته نه دی رسېدلی.

د قمر زړه په خوښيو کې ډوب شو، په يوه شېبه کې يې لسګون راپورته کړ:

-زه يې رسوم!

تر اوسه هغه ته د چا پام شوی نه و، نيا يې په ليدو خوشاله شوه:

-قمر بچی مې پهلوان دی.

هغه د نیا خبره وانه وربېده ځپلې یې ویستې وې او د کوره وتی و، لکه په پښو کې د ننوتونکو اغزیو درد نه چې ناخبره وي، سترګې یې د موټر رڼا کې بندې کړې وې او په منډه و.

د کور غړي اند ېښنې واخیستل او د کلا برج ته له ختو وروسته ټولو سترګې په نه ښکاره کېدونکې کمکي راغه کې ونیولې، هغوی پوهېدل چې قمر یوائې د هغې لارې کولای شي ځان له موټره مخکې د کمره سرک ته ورسوي، خو دا د لېونتوبه ډک قدم اخیستل وو او هېڅوک نه پوهېدل قمر څه اړ که چې داسې وکړي؟

***

پلار یې څو ځل لمرینې ته وکتل لکه هغه چې تر اوسه په کلي کې ورکه وي، په ګوتو یې د هغې غوښین غومبری ونیولو:

ـ لورې! کلی دې خوښ شو؟

ـ هو...... لسګون رانه پاتې شو.

مراد وخندل، جېب ته یې لاس کړ:

ـ زه به بل درکړم.

موټر پاخه سرک ته ورسېد، لمرینې سترګې په تیاره کې ډوب راغه ته ونیولې او نه پوهېده ولې د قمر دلته تېرېدونکې شپې یې ذهن کې په انځورېدو شوې؟

د بریک نیولو سره یې په اوتره مخې ته وکتل او داسې یې احساس کړه لکه په بدن یې چې د خوښۍ لړزه راغلې وي.

د هغه سترګې ځلېدې او سترې زړه یې تېزه تېزه ساه اخېسته، په مخ یې خولې راماتې وې، له زنګنو او لاسونو تللې وینې ته یې د موټر رڼا د لمرینې د بارخوګانو رنګ ورکړی و.

لمرینه موټر نه کېوته، هغه ورلنډه شوه: قمره! او بیا له ورسره سترګې په سترګو شوه.

پلار یې یې لکه پوهېدلی چې وي دا پېښه یوازې هغوی پورې تړلې ده، په خاموشۍ یې د دواړو ننداره شروع کړه.

قمر لسګون تر اوسه موټي کې کلک نیولی و لمرینې ته یې ونیولو: نیا سره مې درنه پاتې و.

لمرینې ترې واخیست بیا یې د پلار نوی ورکړی لسګون ورکړ: دا ستا شو.

قمر په نوې جذبه له مخه ښې پرته راغه کې کلي ته په منډه شو او د هغه له پنا کېدو وروسته لمرینه په موسکو شونډو پلار سره موټر ته وخته.

-هغه ته دې انعام کې ولې نوی لسګون ورکړ ورکړ؟

لمرینې راغه کې بندې کړې سترګې پلار ته واړولې، لاس کې نیولی لسګون یې وروښود:

-دا به هغه له ما هېر نه کړي او نوی لسګون به ما له هغه نه.

***

دسترګو پرانېستو سره قمر ولیدل چې د کورنۍ غړي یې له کته چاپېر موسک ناست دي، اوس رڼا خوره شوې وه ، هغه نه پوهېده څه شوي؟ ولې ټول هغه ته خوښ دي؟ یوازې یې یادېدل چې په لیدونکي خوب کې بریالی شو.

له درد احساسولو سره یې تړل شوي لاس ته وکتل، موټي کې د لسګون په لیدو یې باور شو چې رېښتینی کامیاب دی او نوي لسګون یې کارنامه ټولو ته څرګنده کړې ، بیایې شونډې موسکې شوې.

# ترنم

د مرغيو چغار يې د فکر لړۍ وشلوله، شا او خوا بزګران په کارو بوخت وو، ورو ماشومانو په پستو خاورو کې ځغاستل، يو نيم ځای ښځو له پټيو د تېر فصل بېخونه ټولول، دې هر څه ليکوال سيل ته مجبور کړ؛ څومره ښکلې دنيا !

بېرته يې په تندي د خفګان اثرات راغلل.

ده ډېر څه ليکلي وو او د زړه له تله يې ليکلي وو، خو هلته يې چا د اورېدو حوصله نه لرله، ده بيا هم ليکل نه پرېښودل او په تمه و چې يوه ورځ به وګړي د ليک د اورېدو سره سره د لوستو هيله هم پيدا کړي.

مګر اوس يې هغه خپل نيمګړي خيالات ګڼل، له ځايه پورته شو، لکه کومه پرېکړه چې يې کړې وي.

زړه کې يې تېره شوه ؛ داسې ونه کړي، خو سم دستي په ځان غوسه شو ؛ تر اوسه هېچا و نه لوستې !

کورته ورسېد ، د کوټې اړخ ته کټ باندې پروت توشک يې کش کړ، خواره واره کاغذونه يې راټول کړه.

مور يې کوټې ته ورننوته، سترګې يې ډکې شوې؛ کاش زه پرې پوهېدی.

سپرلی نزدې ؤ ، غوټۍ غوړېدو ته لنډې شوې وې، د څپاند سيند اواز يې تر غوږ شو ، قرار شو ، مخ يې وغوړېده ، اړخ ته يې ښه ور وړاندې شو...

رنځوا وبو خپله غېږه کې پاڼې واخېستې، د ليکوال په شونډو موسکا خوره شوه، داسې لکه د څپو شور چې د ده ليکنې ترنم کوي.

# پټ مخي

## پوليسي کيسه

مرکز نه لرې پرته سيمه کې د دوه کالو راهيسې تقريباً ۳۵ کسه د نامعلومه وسله والو له خوا وژل شوي وو او جنايي کارمندانو د پېښو له څېړلو وروسته يواځې معلومه کړه، چې وژونکي د موټر سايکل تکړه چلوونکي دي او د سترګو رپ کې د پېښې له ځايه ځان باسي.

نه مې غوښتل په داسې کړکيچنو قضيو کې ځان ښکېل کړم خو د کورنيو چارو وزارت له خوا د څېړنې راسپارلو وروسته مې نشو کولای مخ وګرځوم، له جيحون سره ليدنه ماته ضرور وه ځکه هغه هلته وروستی پاتې شوی مامور و، خو يواځې يې ماته د نامعلومه وسلوالو د تصوير راکولو سره وويل:

ـ مامور تورګله! ستا له چالاکۍ خبر يم خو احتياط وکړه.

که څه هم له درې مخ پټو نه د تيښتې په وخت کې تصوير اخيستل شوی و، خوما ترې په اسانۍ د قاتلينو موټر سايکلې او د هغوی د اندامونو اندازه و پېژندی شوه.

حضرت ګل مې د دوه چليدلو هونډا موټرسايکلو پسې ولېږه او د هغه له تلو وروسته نشوم پوهېدی دوهم قدم څنګه واخلم؟ فيسبوک مې خلاص کړ، جيحون د وروستي وژل شوي کس تصوير، د وژنې په اړه يې لنډ معلومات او د سيمې د نقشې سره يې د هغه د کور پته هم راولېږله.

سړی د پېړ او قوي بدن څښتن ايسيده، په يوه مرمۍ يې په ډک بازار کې له ژونده محروم کړی و، له ځانه سره مې وويل: له دريو کوم يو ددې وژونکی دی؟ تصوير ته مې وکتل، له دوه ملګرو نه يې د يو مخکې تلو په هغه شکمن کړم، موټر سايکل چلونه يې له وروستيو خطرناکه په نظر راغله او کېدای شي لامل يې له وژنې وروسته د هغه وارخطاي وه.

کلي ته له تلو مخکې مې نشو کولای د ځېرنې د پیل او ځای په اړه فکر وکړم، یوازې زړه مې و چې هلته په داخلېدو مې څوک خبر نشي.

سګرټ مې ولګو او د حضرت ګل را ښودلي ځای ته مې قدمونه واخېستل....

زما په ارزو پوی شوی و، دوه چلیدلي موټرسایکلونه یې مخې ته درولي وو.

-صېب! خوښ دې شوو؟

په موټر سایکل د پښې اړولو سره مې وویل: په نیمه کې مو پرې نږدې!

هغه موسک شو، بیا یې مستري ته ګوته ونیوه: له پخوانیو دوستانو مې دی، د ځان لپاره یې درولي دي او موږ ترې ګټه اخیستی شو.

ساعت ته مې وکتل درېو ته وخت کم پاتې و: وبه خوځېږو چې د ماښام تیارې سره ورسېږو.

په سرک تلونکي موټر کم و او موږ کولای شول سره څنګ په څنګ روان و اوسو، حضرت ګل رامخ کړ:

- مامور صېب! تر اوسه د هغوی په نیولو یو کارمند هم نه دی توانېدلی.

-ځکه چې د وژنو لامل یې نه دی معلوم کړی....

خبره یې راونیوه: صېب! د هغوی بې ګناهي ټولو ته معلومه ده او دا یوازې د وسله والو د ظلم پورې تړلې ده.

- ګوره! پوهېږم چې وژونکي وسله وال دي... نامعلومه وسله وال او ټولې پېښې د موټر سایکل سپرېدونکو له خوا تر سره شوي، خو فکر کوم د هرې وژنې وژونکي هماغې یوې پېښې سره تړلي.

-موږ د ټولو وژنو څېړنو ته دوام ورکوو؟

- نه، یوازې د وروستۍ وژنې د لامل موندلو وروسته په اسانۍ سره کولای شو د ټولو وژنو راز څرګند کړو او زموږ په سختیو ګاللو وخت دا ثابتولی او دا څېړنه کامیابولی شي.

حضرت ګل په ناپوهېدونکي انداز وویل: د ټولو پېښو لامل څنګه یو کېدی شي؟ مامور صیب!

و مې خندل: ټولې وژنې په یو رنګ تر سره شوي او دا داسې په ګوته کوي چې وژنې یو لامل سره تړلي دي ، یواځې په دې پوهېدی شم چې د لومړۍ پېښې وروسته ورستیو قاتلینو ته د وژنې تخنیک په ګوتو ورغلی چې هغه د موټر سایکله ګټه اخیستنه ده.

-موږ باید هلته شته موټر سایکلې تعقیب کړو.

- دا سې به ډېره سخته شي، په تصویر کې درې واړه موټر سایکلې پېژندی شو خو راتلونکې وژنه به ددې غړو او موټر سایکلو له خوا نه تر سره کېږي.

-نو هلته د وسله والو کوم معلوم ګروپ نشته؟

-په دې اړه نشو پوهېدی، خو داسې ایسي چې وژنې د بېلو درې ګروپه قاتلینو له خوا تر سره شوي او فکر کوم د لومړي ګروپ له طرحې ورستیو د هغه په شان د نامعلوم غچ اخیستو لار موندلې ده.

-موږ باید څه وکړو؟

-هلته په رسېدو به یوه لاره پیدا کړو...

تر منځ موچوپتیا شوه او بیا مې په ټوله لار کلي کې څېړنې ته د لارې اچونې فکر کولو.

د د دوکانو مخونو ته څوړند شوي لاټینونه بل وو او بازار یې په خپلو لمبو داسې روښانه کړی و لکه لمر چې سحر مخ راپورته کوي.

-صیب! ولسوالۍ ته د مرکز له خوا زموږ د رارسېدو خبر رسېدلی شي.

- مخکې دوهم لاس کوڅه کې میلمستون شته او له بریکه مې پښه لرې کړه.

لوې څپرې لاندې څلور موټر سایکله ولاړ وو ، له کتو وروسته مې ترې یو وپېژند.

ـ حضرت ګله ! همدلته ولاړ پاتې شه ، بیا مې له وړوکي جیبي بکس نه هغه ته غړېزه دستګا ورکړه او له پرېښودو مخکې مې ورمخ کړ: لوړه وزغمه.

ویې خندل: صېب بې غمه اوسه.

هوټلي د مېز شاته ناست و غاښ کې یې ډکی وهلو، یو نیم ځای خلک په ډوډۍ خوړلو بوخت و او وروستۍ برخه کې څلورو پرې کولې، سګرټان یې بادول او ښووله یې چې یوه ډله ده، زما په لور یې هډو کتل نه او د هغوی له پېژندو وروسته مې هیله وه چې ومې نشي لیدی، له کباب راخېستو وروسته راووتم.

حضرت ګل زما په لیدو په اوترۍ وویل:

ـ صېب ! څه دې ولیدل؟

ـ باید د سرک په وروستۍ برخه کې د هغوی راوتو ته انتظار شو..

ـ هغوی ملګري دي؟

ـ بې شکه، خو له هغوی یو موږ ته په کار راځي ، بیا مې موټرسایکل ورپه ګوته کړ، غړېزه دستګا ورته د سیټ لاندې ځای په ځای کړه.

له هوټله ډېر وړاندې داسې ځای ودرېدو چې کولای مو شول هوټل نه وتونکي ووینو، د انتظار مو نږدې ساعت په پوره کېدو و ، له ډوډۍ وروسته مې درېم سګرټ هم ولګاوه او بیا مې مخامخ کتو سره هغوی باندې سترګې ولګېدې.

ـ صېب ! همدا دي؟

ـ هو، ځان تیار وه.

هغوی په چوپتیا روان شو و ، موږ هم پسې حرکت وکړ.

چوک ته رسېدو سره ودرېدل ، غوږونه مې څک کړل.

ـ دروېشه ! ښه به وي چې لنډ وخت کې مو کار خلاص شي.

ـ ثمره ! یو اځې خادم سره لیدل پاتې دي.

مخه ښه یې وکړه او بیا دوه بازار ته په راننوتونکې لار او دوه ختیځ اړخ ته روان شو.

حضرت ګل وویل: صیب ! زموږ دواړو لارې هم بېلې شوې؟

-یوائې دوه ملګري یې تعقیبوو.

کوم غږ نه راته او بیا مې د درېم کس غږ هم واورېدی شو:

-خادم به خوښ شي.

-سرتاجه ! ثمر به بابو موږ سره ملګری کړي، خپله ډارن دی.

بابو یې څلورم و په وجود مې خوښي راپه ننوتو شوه ، حضرت ګل ته مې وویل: ژوندي نیول یې ډېر اړین دي، زه کوی شم په ټکر یې چپه کړم او هغه شېبه باید ته ماشه په ګوته د هغوی په سرونو ولاړ اوسې.

-صیب ! زه یې هم....

-زما خبره دې واورېده؟

-سمه ده.

وروستي ریز ورکولو سره شېبه وروسته دواړو ته لنډ شوم، هغوی عمومي سرک ته نږدې کېدو کې وو، د کمر وروستۍ برخه مې انتخاب کړه، اړخ ته کېدو سره یې ماته لار پرېښوده، رفتار مې کرار کړ د سرک منځۍ ته شوم، توله مې پرې ورتاوه کړه او ورسره په لګېدو مې هغوی په کمر ور وغورځول، خپله هم روغ پاتې نشوم، د پښې وروستۍ برخه مې د ماشین لاندې شوې وه او درد یې نا قراره کړی وم.

د حضرت ګل غږ مې واورېد: له ځایه ونه ښورئ ! بیا یې بجلي زما مخ ته راواچوله.

-مامور صیب ! کار دې کړی.

-وسلې یې ترې واخله.

د درد زغملو توان مې پیدا کړ، هغوی ته ورلنډ شوم، حضرت ګل دواړه کمر ته تکیه کېنولي وو، هغوی تر اوسه د ټکر په اړه انګېرنه کوله یو یې وویل: څوک یاست؟

ورغبرګه مې کړه: نامعلومه وسله وال!

لکه په هرڅه چې پوهېدلې وي، فکر کولو ته مې پرېښنبود: درويشه! پوهېږم چې بابو به درسره راتلونکې وژنه کې او چې هېر مې نشي له وروستۍ وژنې سربېره چې بادام مو وويشت دلته ټولو وژنو کې لاس لرلو.

له ډېز سره مرمۍ د درويش تندی سوری کړ، لاس سره يې د کنډو سکې تېرې ليدو وپوهولم چې غوښتل يې په سرمې ووهي، خو حضرت ګل يې کارختم کړی و.

حالت مې قهرجن شو: په هرڅه اقرار کولو سره کولای شې خپل جرم کم کړې.

-صېب! موږ اجرتي قاتلان يو.

-او خادم؟

-هغه مو بادار او موږ يې غلامان.

د هغوی څخه اخيستل شوی تصوير مې راوويست: خادم پکې کوم دی؟

ګوته يې په مخکې کس کېښنوه: دا دی!

-وروستۍ وژنه چا ترسره کړه؟

-بادارمو هغه وويشت.

-او مخکينۍ پېښنو کې ويشتونکې؟

-زه او درويش.

-بادار مو بادام ولې خپله ختم کړ؟

سرتاج چوپتيا غوره کړه.

بله پوښتنه مې ترې وکړه: بابو او ثمر مو څه وخت بادار ته وروستل؟

-سهار ته.

د هغه له څنګه پورته شوم او جيحون ته د سلام لېږلو وروسته مې د هغه ځواب ته انتظار ونه ويست: ګرانه! سمد لاسه بايد موږ ته د يو ځمکې لاندې کولو غم وخورې.

شپېه وروسته یې ځواب راورسېد:

.ته په څه اخته شوی یې؟ ولسوال تا ته انتظار دی.

سرتاج ته مې غږ کړ: دا ځای څه نومېږي؟

.سور کمر.

. له هغه وغواړه چې پولیس سور کمر سره پروت جسد ورلو ته را واستوي او زما له لورې ترې ښېنه وغواړه، ځکه نشم کولای.

د سرتاج څنګ ته لاړم: کور دې کوم ځای دی؟

.کور نه لرم او دا شپېه هم بادار موږ ته انتظار کوي.

.هغه سره اړیکه ونیسه.

سرتاج په خیریت کې تللو سره وویل: څه ورته ووایم؟

.هغه ترا وسه ثمر او بابو لیدلي؟

.نه.

. اسانه شوه، شپه مې بابو دو ی سره ده ، سهار به ورسره په ګډه ستا خواته درشم او دروېش ډبر لرې د یو دوست پوښتنې ته لاړ.

په لړزېدلي لاس یې تیلفون رانه واخېست، بیا یې حضرت ګل ته وکتل ، د څه شمېرو وهلو وروسته یې غوږ ته ونېو.

ورته مې وویل: اواز یې اوچت که.

د خادم اواز مې واورېد: څوک یې هلکه؟

.باداره ! سرتاج یم.

.دروېش دې څه کړی؟

.هغه باغیو ته د انډیوال تپوس ته لاړ دی.

.او ته چرته ورک یې؟

.له بابو دوی سره پاتې شوم، سهار به په ګډه ستا خواته درشو.

.سمه ده، سهار به ګورو.

تیلفون مې ترې واخېست: او س نو خوځېږو، داسې فکر کوه چې زه بابو او حضرت ګل ثمر دی، پوی شوې؟

-پوې شوم، خو درويش؟

- د هغه د دفن کولو چاره به وشي، مور چېرته کوې شو پاک کالي تر لاسه کړو؟

-په هوټل کې.

تر هوټله ورسېدو.

د شپې دوه بجې او لس دقيقې وې: سرتاجه! حضرت ګل تاسره د ملګري په توګه ننوتونکی دی، له موټر سايکله راخلاصه کړې دستګاه مې حضرت ګل ته ورکړه.

هغوی ننوتل، تر څو شېبو چوپتياو وروسته مې د هوټلي اواز واورېد: سرتاجه! بيا څه بلا غواړې؟

- شکيل ماما! دوه جوړه جامو ته ضرورت لرو، درويش مو د پېښې ځای کې پرېښی، بايد ژر ځانونه ور ورسوو.

-تاسو جګړه کړې؟ او دا بل درسره څوک دی؟

-حضرت ګل، له ملګرو مې دی.

-بدبختو زه به درته د کارکوونکو خيرنې جامې راپيدا کړم.

د قدمونو اواز مې واورېد او اندېښنې نيولی وم چې سرتاج په خپله چالاکۍ په حضرت ګل د حملې کولو وخت پيدا نه کړي.

-واخلئ او خوب ته مې پرېږدئ.

له جامو بدلولو وروسته مې سرتاج ته وويل: سهار کېدو ته وخت کم پاتې، د بادار کور ته دې د سور کمر له لارې علاوه کومه بله هم شته؟

-شته

نقشه کې مې د اوسني موقعيت له ورښوولو وروسته هغې نه د نوې لارې په اړه وپوښتل.

ګوته يې د سرک اخر کې نرۍ تاوې شوې لار باندې کېښوده: دا سې هم تلی شو.

-حرکت کوو، خو پام دې وي چې د کوم چال کولو هڅه ونه کړې.

حضرت ګل وويل: صبب ! دروېش سره د ځان يوځاى کول نه خوښوي.
موږ په تنګه کوڅه نشو کولاى سره څنګ په څنګ روان و اوسو، سرتاج مې مخکې، زه ورپسې او وروستى حضرت ګل روان شوو، له يو ساعت مزل وروسته د ډاګ په رارسېدو لار پراخه شوه، د سرتاج څنګ ته شوم:
- داکوم ځاى دى؟
- تور راغه.
- موږ بايد څومره نور مخکې لاړ شو.
- له لمر ختو سره به ورسېږو.
- له خادم سره څو کسه پاتې دي؟
- يواځې دى.
- له هغه سره مو د څه وخت راهيسې کار کولو؟
- له لومړي ورځې.
- د څه لپاره مو وږنو ته مخه کړه؟
- د بادار غوښتنه مو وه، خريداران به يې پيدا کول او ترې د پيسو اخيستو وروسته به يې موږ سره د وږنې ځاى ته لېږه، چې وکړى شي په سترګو د وږل شوي ترپکې ووينې.
د رڼا په خورېدو سره د خادم کور ته ورسېدو، سرتاج ته مې تشه تمانچه ورکړه، راته يې وويل: ته ډېر هوښيار يې.
- بادار دې له ما هم.
- غواړم له زړه درسره همکاري وکړم؟
- اوس ددې خبرو وخت نه دى.
د خادم حجرې ته ننوتو، شېبه وروسته هغه په خوبولو سترګو راووت او زموږ په ليدو يې سرتاج ته وويل:
- دروېش سره اړيکه ونيسه، چې په ګډه سره خبره وکړو.
ماځواب ورکړ.

ـ درویش سره له ډېر وخته پېژنم او د هغه د مرستې له وجې تر تاسو د سرتاج په واسطه راورسېدم.

ـ نه غواړې نن دې کار وشي؟

سرتاج ځواب ورکړ.

ـ باداره! دوی دواړه له ماسره ملګري کېږي او درویش په دې له پوهېدو وروسته لاړ.

حضرت ګل دروازې ته لنډ ځای نیولی و، خپله د خادم مخامخ توشک باندې ناست وم او سرتاج د کوټې وروستي سر ته تللی و.

د خادم سترګو کې مې سترګې خښې کړې: ته هم کولی شې له موږ سره برخه واخلې، درویش دې راته د نښې ویشتو صفت وکړ چې څنګه دې په مرمۍ د بادام تندی و څېره.

وروستۍ خبرې مې د هغه هواس په بایللو کړه: سرتاجه! موږ په کومه لومه کې نښتي یو؟ دوی څوک دي؟

ـ زه مامورتورګل یم او دا حضرت ګل، یواځې د درویش هېرولو ته ضرورت لرې ځکه نه یې شو لیدی او سرتاج موږ سره په همکارۍ د ګناه پیټی سپکوي.

خادم پرې غوسه شو: رذیله! شکمن وم چې کومه لوبه دې غوړولې....

خبرې مې ورپرې کړې: خادمه ستا په شان لوبه چلول د ډېرو له لاسه نه ده پوره.

ـ مطلب دې څه دی؟

ـ د درویش او سرتاج استعمالول او د وسله والو له نومه ګټه اخیستنه.

ـ ته کوم ثبوت نه لرې!

ـ اړتیا ورته نه لرم، ته به خپله په هرڅه اقرار وکړې، بیا مې سرتاج ته مخ کړ: لاسونه یې د غاړې په دسمال وروتړه.

خادم برګ برګ وروکتل: سپیه! ته داسې نشې کولای.

سرتاج د بادار په خبره غوږ ونه ګراوه او لاسونه یې وروتړل.

ورنږدې شوم: بادام دې ولې خپله وویشت؟
-په ما څه نشې ویلی.
-حضرت ګله! پښې یې ور وتړه او د چت تېر کې یې پړمخ راځوړند کړئ.
زما توند والي یې بدن وربېږداوه: ته... ته څه کول غواړې؟
-د بادام ګناه څه وه؟
-زما پلار یې ویشتی و او بدل مې ترې واخېست.
-ستا پلار یې ولې وویشت؟
-پلار مې هغه شپه ډېره نشه کړې وه او ملګرو یې له ځان سره د دوکان چور کولو ته وړی و، هغوی نه یو مارکېټ ته ننوتونکي پیسې لیدلې وې، خو چوکیدار دوکان نه و ورپه ګوته کړی، پلار مې هغه ویشتی و او د بادام وړوکي زوی مې پلار پېژندلی و.
-چوکیدار د بادام څه ؤ؟
-ورور یې و.
-وروسته څه وشو؟
-بادام د زوی له خولې د خبرېدو وروسته مور ته ځواب راولېږه، چې د ورور بدل مې نشم درېښلی او په پنځمه ورځ زما پلار هغه په تندي وویشت.
-خلاص په خلاص شوئ.
-له هغوی سره مو جرګه کې په دښمنۍ تېره کښوده، خو ما مې د پلار سوري تندی نشو هېرولی.
-۳۴ مخکیني دې ولې وژلي؟
-بادام ته درسېدو لپاره مې دا لاره خپله کړه.
-تا د خلکو دښمنۍ ګټلې؟
- ما ډېرې کورنۍ پېژندې چې د جرګې د پرېکړې له وجې یې نه شو کولای په دښمن زړه یخ کړي او په دې هم پوهېدم چې بادام اول وي که اخر کلي ته کډه راکوي.
-او د نامعلومه وسله والو نوم ستا مخه خلاصه کړه.

-بله لار مې نه لرله.

حضرت ګل ته مې وويل: سرتاج ځان سره کړه او د ولسوالۍ نه موټر راوغواړه.

د هغوی له تلو وروسته مې نقشه د خادم مخ ته ونيوه : د ۳۴ نورو همکارانو ځايونه دې راپه ګوته کړه.

نقشې ته د څه شېبې ځير کېدو وروسته يې يو يو کور راپه ګوته کړ، چې هماغه شېبه مې په نښه کړه.

بيا يې وويل: ته نشې کوی هغوی ونيسې.

-زه پوهېږم، فکر مه کوه.

جيحون ته مې وليکل: سمدستې ملي امنيت سره اړيکه ونيسه، موږ ځانګړو ځواکونو ته اړتيا لرو، هغوی بايد نن په نقشه د نښه شويو کورونو نه در په ګوته شوي کسان ونيسي.

له خادمه مې د هغوی د نومونو وپوښتل او جيحون ته د لېږلو وروسته موټر ته انتظار شوم.

له بې خوبۍ مې سره ګرځېده او د ډېر انتظار وروسته هغوی راورسېدل.

حضرت ګل ته مې وويل: د دواړو لاسونه يې ولچک کړه.

د سرتاج سترګې ډکې شوې.

په اوږه مې لاس ورکېښود: ستا محکمه کې به برخه واخلم.

-نه يې باوروم.

-ولې؟

موسک شو: مامور صېب! ته به ما په خپلې چالاکۍ د زندان له تمبو وساتې.

زموږ درې واړو په خندا د خادم تندی تريو شو، د څه ويلو وخت مې ورنه کړ: ځئ چې ځو.

# امتحان

ټولګي ته د خنداګانو او خبرو اترو په شور کې استاد راننوت، په يوه شېبه کې هلته د هر څه لړۍ وشلېده، د هغه احترام ته د مخې ودرېدل.

- کېنئ! هيله مند يم چې رخصتي مو ښه او په درس ويلو تېره کړې وي.

- همداسې ده، استاد!

ټولو سياهون ته وکتل او ويې انګيرل چې تراوسه يې خپل لېونتوب نه دی هېر کړی، د تېر کال ستونزې هېڅ نه يادوي او همداسې به پاتې شي څکه له لومړۍ ورځې ښکاري.

- سياهونه! په تا مې باور نشي.

سياهون چې نن يې چا په شونډو موسکا نه وه ليدلې له چوکۍ راپورته شو:

- ښننه غواړم استاد! خو زه بايد د خپلې خبرې په اړه چې له تا پرته يې دا يو هم نه باوروي، هغه په چوکيو کې ناستو جونو او هلکانو ته اشاره وکړه، يو څه ووايم.

کله چې کورته لاړم د کور ټول غړي مې نا راضه وو، څکه ما دهغوی هيله نه وه پوره کړې، هغوی هم فکر کولو چې هېڅ مې نه دي ترلاسه کړي، خو د شپې له وېده کېدو وروسته ما خوب وليد، نا اشنا خوب!

دلته تېرې شوې شېبې او پېښې مې پرله پسې کتلې او ټولې ماته په زړه پورې وې، په خوښۍ مې چغې وهلې: ما ډېر څه ترلاسه کړي، تاسو پرې نه پوهېږئ او بيا ناڅاپه د نوي کال لومړۍ ورځ ووينم، فکر کوم ټول زما په بدلون پوهېږي خو بيا هم څوک نه پوهېږي.

زه له چوکۍ راپورته شم، تاسو ته د خپل تېر کال د لاس ته راوړنو په اړه ووايم:

فکر مه کوئ ! چې ما تېر کال هېڅ نه دي کړي، د چا لپاره چې پاتې شوی يم ورته ته د رسېدو په لومړي امتحان کې کامياب شوم، ما ور وښودل چې له ستونزو سره مبارزه تر ما څوک ښه نشي کولای ، زه وېره نه پېژنم او په سپينې غټې تختې له څه ليکلو وروسته تاسو ته مخ کړم، انديښمنو څېرو ته مو ونه ګورم : خپلې خبرې ته ريښتينی يم او څه وخت وروسته بيا ګورم چې سمستر خلاص شوی وي..

استاد چې په شونډو يې موسکا پرته وه د هغه خبرې پرې کړې: او زموږ ټولو باور دې تر لاسه کړی وي.

ـ هو استاد ! ستاسو د باور لاس ته راوړلو سربېره زه خپلې مينې ته هم رسېدلی يم، هغه زما خواته مې په موسکو شونډو ولاړه او په ما وياړي، ځکه تاسو ته په تخته ليکل شوې خبره(زدکړه کوم) زما دوهم امتحان وي او زه کامياب شوی يم.

ټولګيوالو پر سياهون وخندل او فکر يې کولو هغه ټوکه کوي.

سياهون له کړکۍ سره لنډې جينۍ ته خپلې سترګې وګرځولې، نرۍ موسکا يې رګونه وپارول: زه خپل خوب په حقيقت بدلوم او خپلې مينې ته ځان رسوم.

# د بوټانو ترپار

د عسکرو بلوک له ډېر مزله وروسته هم ونه شو کړی له واورینې دښتې د وتو لار ومومي او جنګ ته له استول شوي ټولي سره یو ځای شي، هغوی په ناهیلۍ د خوړو په نیت کېناستل، چې د مرمیو باران پرې جوړ شو.
ستړي عسکر ترور شول، څه په یوه لورې او څه په بل په ځغاسته شول او مورچې یې ونیولې.
د زخمیانو چغې په پورته کېدو شوې، بلوک مشر او درې عسکرو جنوب ته مخکې تګ وکړ، کمین یې له منځه یوړ ، خو مرمۍ لا وربدلې، د دښمن کړۍ ترې ګردو خواو ته تاوه وه.
بلوک مشر څو مرمۍ په ورنونو او سینه وخوړې اویو عسکر په سر ولګېد ، پاتې دوو پروت وکړ او ځانونه یې تر بلوک مشره ورسول، هغه زخمي و.
له ونې ټیټ او پلن بل ملګري ته چغه کړه: سلطانه ! زه یې په شاه کوم ته دښمن د اور لاندې ونیسه.
د سلطان مخ غټ ورمېږ او ببرې ږیرې ورک کړی و ، د کمربند شاجورونه یې تش کړه، د مرمیو راتلل کم شو، په وېره مخکې تېر شوو، تنګ پیچومي ته شول او د بلوک مشر زخمونه یې وتړل.
سلطان له ځایه پاڅېد: هغه به ژوندی پاتې نشي، زه ځم.
د ریدي رګونه و پړسېدل: ته د هغه سره مرسته کې بې پروايي کوې !
- چرته یې وړې؟ ولې د دښمن د مرمیو لاندې ملګرو سره مرسته ونکړم!
- لېونیه ! موږ هغوی نشو ژغورلای، ښه به وي ځانونه او بلوک مشر ژوندي وباسو.
سلطان ترې شاجورونه واخیستل: زه به هغوی ژغورم.

د ريدي سترګې د اور د بڅرکو په شان سرې واوښتې، چغه يې کړه: نادانه ! د ځان دښمنه، راوګرځه، ته به ووژل شې.

سلطان تللی و، ريدي ته له زخمي ببلېدا سخته تمامېده، فکر يې کاوه داسې ځای به ومومي، چې ځان او زخمي وژغوري.

***

دښمن غوښتل د لويې ډبرې شاته پاتې ژوندي عسکر چې تر ډېره يې مقاومت کړی و له منځه يوسي، ښکارېده چې هغوی مرمۍ خلاصې کړې دي، ځکه ډزې يې غلې وې؟

سلطان په تربله (کښېدو ) ځان ورسولو، ګېټ يې کش کړ، مخ پټي چې شمېر يې کم شوی و، بې مرميو غسکرو ته نږدې کېدل.

سلطان هغوی په نښه کړه....

ژغورل شوي عسکر د بري په چغو را جيګ شوو او سلطان په خوښۍ ورمنډه کړه.

***

د وړو لېوانو انګولا انګازې کوي او دښته سپينو واورو پوښلې.

د ريدي پښې د قدم اخيستو له توانه په وتو شوې، نه پوهېده نور څومره بايد لاړ شي؟ او دې اندېښنې هم نيولی و چې، د وينې بوی د وړو لېوانو ړله تر دوی راونه رسوي او سلطان؟ غسکر ملګري يې وريادشول، بدن يې په لړزه شو، کېناست زخمي يې په واوره وغځولو، تللې وينې يې دريشي سره اړولې وه.

هغه ته د ولړې او يخنۍ زغمل ګران و، زخمي ته يې وکتل، د خوښۍ څپه پرې تېره شوه، په هوښ راغلی و، خو رنګ يې زيړ تښتېدلی و.

ناڅاپه يې سترګې سپينې شوې، لړزه يې په زياتېدو شوه، د عسکرو د بوټانو ترپار و ، نه يې باوروله، غوږونه يې څک کړل، د ټولې مشر غږ يې واورېد ، په اوترۍ ودرېد ، هغه ټولې ته رسېدلی و ، هغوی رالنډېدل.

# جادوګره

سپوږمۍ تل د اسمان سوچه رنګ ته ځلا ورکونکې وه او پړقېده، د هغې ښکلا د هرچا زړه کش او د ورلنډېدو ارماني کړی و، د ملک وګړو په ځمکه د ټولو بره استوګنه لرله او سپوږمۍ یې له سترګو نه پټېدونکې وه، خو هغوی یو اځې په خوبونو او خیالونو کې تر هغې رسېدای شول.

سپوږمۍ ته د رسېدو لار چا ته معلومه نه وه، د ملک سردار لارښوونکي ته د منونو سرو او سپینو ورکولو سربېره د لوړ مقام ور ښېلو ته هم تیار و، خو څوک پیدا نه شو، ټول منتر پوهېدونکي، مداریان او فالګر ناکام شو او نور دا ناشوني شوې وه چې داسې دې وشي، خو وخت زړونو ته یو ځل بیا اندېښنې کېویستې؛ ولې سردار چې لوی جادوګر دی لارو نه مونده؟

سردار د ټولو قامونو له مشرانو مشر او د ځمکې په مخ بې سیاله جادوګر یادېده، هغه د عمر زرګونه شپې او ورځې د جادو په زدکړه تېرې کړې، له هغه استادانو یې زدکړه وکړه چې له مرګه یې پېړۍ اوښتې او هغو ځایونو ته چې زړه یې ورتلل غوښته لاړ، خو نتیجه نه وه !

هغه لېونتوب ته لنډېده، نه پوهېده چې په شتمنۍ او زړورتیا څه وکړي؟ د هغه ارمان نه پوره کېدونکی دی، هغه همداسې کړېده، خوارېده او له ژونده بې زاره کېده.

په کټ له ملاستې وروسته د خلکو له خبرو خبر شو، وروستۍ هیلې هغه یو ځل بیا ودرولو او سپوږمۍ ته د رسېدو تکل یې وکړ.

سردار له باتجربه جادوګرانو سره سفر ته تیار شو، هغوی ته د رخصت وخت کې خلکو په سترګو او لاسونو دعاوې کولې، خو فکرونو د هغه تلل د مخکې په شان انګیرل او بیا کلونه وروسته انسانانو ته یو اځې د سردار د سفر په اړه افسانې پاتې شوې.

***

سردار او ملګرو یې په کلونو مزل وکړ، نه باورېدونکې ستونزې یې و زغملې، مشورې او تجربې یې سره شریکې کړې، د خوبونو تعبیرونه یې وویستل او د اسمان تر څنډو یې ځانونه ورسول.

هغوی د اسمان په رنګ کې ډوب شول، سپوږمۍ ته به یې هم د زړه له تیپونوسره نظرونه ور واړول، چې دوی ته یې موسل او دا وخت د باد زوروري څپې هغوی له ځمکې ټېل وهل....

یوې نا اشنا سیمې ته ورسېدل او منزل یې نامعلومه شو.

مخکې یې قدمونه واخیستل، چې درنه چوپتیا ورسره په ماتېدو شوه او دا سې څرګندېده چې سپوږمۍ ته رسېدونکي دي.

د ډېرو تلو وروسته د غره ډېرو د سپوږمۍ څېره خپله کړه، د سرو په اوبو له وینځل کېدو وروسته یې ځلا بېخي سپوږمۍ ته نزدې وه، داسې ښکارېده چې هغوی د سپوږمۍ کور ته ننوتي.

لاړل، لاړل او ځانونه یې د خوښۍ په مستو څپو د غره تر سره ورسول، یو هم نشوه باورولی، ورپسې کتار همداسې نور وو او دې هغوی په سترګو شکمنول چې غرونه ټول سپوږمۍ ته ورته جوړ شوي وو.

د خوښۍ چغو هلته د چوپتیا اعتصاب مات کړ، تر شپېو شپېو د چغو انعکاس اورېدل کېده،د سردار زړه هم چاودلو، خو هغه مخکې منډه واخیسته..

سردار ورستي غره ته رسېدو سره د زړه ستړیا احساس کړه، پښې یې لکه بیا چې د کمزورۍ څپې ووهي په لړزه شوې، لکه ماتې سره چې مخ

شي، لکه پوهېږده چې د غره سر ته له ختو وروسته به يې وروستۍ هیله هم مړه شي او دا به هم د نورو په شان ارمانجنې سترګې پټې کړي.

يوائې تلوسې وې چې شېبه په شېبه بدلېدې او سردار نشوې شړلی، ځکه لږ وروسته هر څه ختمېده.

د غره سرته له ختو وروسته د سردار رګونه وپړسېدل، هلته د پیاوړي جادوګر مازا لور ده ته هر کلی وکړ، سردار لسونه ځل مازا نه لارښوونې اخیستې وې او هغه وخت به يې دا هم لیده چې د پلار پښې به يې زور کولې ، خو اوس يې لیدل چې هغه جادوګره له ده مخکې سپوږمۍ ته نږدې شوې.

ـ سرداره ! ته هلته نشې رسېدی، زه نشم ، مازا زما پلار چې دلته لومړی رارسېدونکی و هم ونه شو کړی، خو راز يې موندلی و او د مرګه مخکې يې خپلې ګرانې لور ته، ما ته راښولی، جادوګرې خپله ګوته په سینه کېښوه او چوپ شوه.

سردار د هغې خبرو په خیریت کې کړی و ، ساه يې په ډوبېدو وه او نشو پوهېدی څه به وشي؟

جادوګرې هغه له اندېښنو راوویست؛ پلار مې ماته نه وو ویلي چې دلته در رسېدونکی به څوک وي، خو له راتلو وروسته مې تل ستا هڅې سترګو ته کېدې او باوري وم چې تر ما به دې راورسوي...

ـ خو مونږ مات يو....

ـ نه‌نه د مازا وروستۍ خبره وه چې؛ لورې ! له تا زېږېدونکی به سپوږمۍ ته رسي، هغه لمر نومېږي.

ـ مونږ سره واده کوو !

ـ هو، خو د لمر له زېږېدو او پورته کېدو وروسته به سپوږمۍ له ما او تا پرته ټول هغوی بره یوسي چې قرباني ورکوي.

ـ مونږ خپلو خلکو ته قرباني ورکوو.

ـ او بېرته به راځو، د هغوی نڅاوې به له دې ځایه وینو.

ـ همداسې به وشي.

او بيا دواړه ملک ته روانېږي.

***

له ډېرې ورکې وروسته سردار له يوې داسې ښځې سره راستون شو، چې په ليدو يې څوک نه مړېدل او د ځمکې سپوږمۍ وبلل شوه، ټولو د سردار سترياوې د داسې ښېرې لرونکې لپاره کمې وبللې، هغه ته يې مبارکۍ ورکولې، هر چا ويل چې سپوږمۍ سردار ته د سختيو ګاللو وروسته ډالۍ ورکړه.

له سردار سره د تللو کسانو په اړه هېچا فکر نشو کوی، چا نه يادول او سترګو يواځې د يوې داسې ښکلا ليدل غوښتل چې سپوږمۍ ته بلکل ورته وه، د ملک لوی واړه دربار ته په راتلو شوو، دا خبر لکه تېز باد تر هر ځای ورسېده او دې له ځانه سره خوښي لرله.

بې شماره شپې او ورځې دربار کې سندرمارو اوازونه وويسته، نازک اندامه جونو رقصونه او ساقيانو جامونه وويشل، جادوګره په ټولو مهربانه وه، د خلکو سوعاتونه او قربانۍ يې منلې او د هغې موسکاو زړونه ارمان ته په رسېدو باوري کول.

سردار يواځې د قربانۍ امرونه کول، ويل يې لمر به پيدا شي او ارمانونه به پوره شي، هلته تر کلونو د خوښۍ شپې خورې وې، يواځې د ګوتو په شمار خلک په کارونو بوخت پاتې وو، ګنې کلي له انسانانو تش شوي وو او د لمر پيدا کېدو ته يې انتظار ويست.

انتظار پای ته ورسېد، لمر پيدا شو، سترګې وازې پاتې شوې، ځکه سپوږمۍ د لمر غېږې ته ځان سپارلی و، چغو ځمکه لړزوله، په زړګونه زړونه و چاودل او نورو د سردار ماڼۍ ته و ځغاستل، هلته مړګونې چوپتيا خوره وه.

هېښ پاتې شوي و ګړو سترګې يو خوا بل خوا ګرځولې چې د جادوګرې غېږ وا اوړېدل شو؛ موږ قرباني ورکړه او سپوږمۍ تاسو قبلوي.

***

يوائې سردار او جادوګرې د لمر د مخ سوزونکې رڼا و ليده او شېبه وروسته هغه لاړ، له تلو وروسته يې سردار او جا دوګره د کاميابۍ له احساس سره مل د جادوګرې استوګنځي ته ستانه شول.

هغه نړۍ ته لاړل چې دوی ته جوړه شوې وه، هلته چې ويلي يې و؛ د نڅاوو ننداره به کوو، ناست وو، جادوګرې سردار کې سترګې خښې کړې وې او د سردار د فکر په اړه پوهېدې شوه، غبږ ته يې ور وړاندې شوه؛ صبر وکړه، هغوی به زما غږ واوري او سپوږمۍ ته به ورسي، مازا همداسې ويلې.

سردار چغه کړه؛ هغه رښتيا ويلي.

د دواړو سترګې پاس مېخ شوې، زړونه يې د خوشحالۍ په چاودېدو شول، دا شېبه د اسمان مخ په ستورو پوښل کېده او له سپوږمۍ يې طوافونه کول.

# پای ته ورسېده!

## پوليسي کيسه

د چايو فرمايش مې ورکړ، تر هغې مې کولای شو د رڼو او مستو اوبو د ځپو سيل وکړم، په چوکۍ کېناستم، شاګرد چاينکه او پياله په مېز راکېښوله، غوښتل مې چای واچوم چې د مېز بلې څنډې ته ماته مخامخ د پېر بدن سړی کېناست، په سر يې په شمار سپين ويښتان پاتې وو او د هغه ټول حالت د کوم غټ سړي ښکارېدل، شاګرد ته مې د بلې پيالې راوړو غږ وکړ او بيا مې هغه نا اشنا سړي ته مخ کړ؛ موږ سره په لومړي ځل وينو!

د هغه شونډې خلاصې شوې، د وجود برعکس په نري اواز يې وويل؛ مامور تورګله! ته به زما کار وکړې!

په ناخبرۍ سره مې ځواب ورکړ؛ پوی نه شوم!

هغه په مېز راتکيه شو؛ ګوره، زه به تا ته هغومره پيسې درکړم چې ته يې غواړې، خو که ته هغه څه وکړې چې زه يې غواړم.

- ته څه غواړې؟

- د يو بې رحمه قاتل موندل، داسې قاتل چې د هغه په اړه موږ په هېڅ نه پوهېږو.

- و به يې نشم کړی....

- ته يې کوی شې او ته بايد داسې وکړې، هغه زما يوازينی زوی راوواژه، زما د زړه ټوټه....

زموږ دواړو تر منځ چوپتيا شوه، د هغه سترګو ته مې وکتل، نمجنې وې او لکه د زوی د ژوند شېبې چې ګوري، له ځانه هم ورک معلومېده.

- هغه به دې د دښمنانو له جملې نه ؤ.

هغه برند راوکتل؛ دښمنان مې داسې نشي کوی، زوی مې هم دوست او دښمن پېژنده، هغه دوکه شوی او زه په دې ډېر ښه پوهېدی شم.

- چا به ترې خپل غچ اخيستی وي!

ـ کېدای شي، خو زما زوی څوک له ژونده نه دی محروم کړی، ما هغه پېژنده.

ـ له چوکۍ پورته شوم؛ ببښنه غواړم، ډېره دې ستونزمنه کړه.

هغه له لاسه ونيولم؛ ته ما و پېژنه.

ـ زما له نوم سره ټول خلک اشنا دي، د هېواد لوی پانګوال يم، هر څه مې له لاسه پوره دي او له تا به يې ونه سپموم.

بېرته په چوکۍ کېناستم، هغه ته له قناعت ورکولو بله لار نه وه راپاتې؛ پوهېږم، خو اوس خبره له شتمنۍ تېره شوې ده، ته په دې وپوهېږه چې وژونکی يو اځې ستا زوی پېژندلی شي، د هغه پسې پلټنه وخت ضايع کول دي او زه کله هم وخت نه ضايع کوم.

راجېګ شو؛ زه به دې هلته يوسم چې زوی مې پکې وخت تېراوه، کېدای شي هلته ترې داسې کومه نښه پاتې وي چې تاسره د قاتل په موندنه کې مرسته وکړي.

ـ ځه چې ځو.

له ما مخکې شو، د چايو پيسې مو ورکړې او د موټرو د تم ځای خواته لاړو، هغه د موټر پسې ننوت او زه دروازه کې انتظار شوم، شېبه وروسته مې لکسس موټر کې ناست وليد، مخکې سيټ ته وروختم.

ـ زما زوی يې همدې موټر کې وړی و.

په ناباوری مې وويل: چېرته؟

ـ هلته چې وربه شو.

ورته مې وويل: ولې يې موټر نه دی وړی؟

ـ زما زوی کوم غل نه دی وژلی، تورګله! ته ځان پوی کړه... هغه چوپ شو.... بيا يې د واسکټ جېب ته لاس ننويست، موبايل يې راوويست، څه شېبه يې پکې ګوتې ووهلې او ماته يې راوړاندې کړ؛ د قاتل مسيج چې ماته يې پرېښی، ويې لوله.

و مې لوست؛ راشه دا مردار دې له نېر نه يوسه.

ما څه ويل غوښتل چې ليدل مې نېر ته نژدې شوې وو، پټه خوله پاتې شوم، ځکه هغه ټول هغه څه چې پرې پوهېده ماته راښوول.

هغه موټر او بو ته لنډ ودراوه، حالت يې شېبه په شېبه خرابېده؛ همدلته يې وژلې او بيا له موټره ښکته شو، زه هم پسې کېوتم.

د هغه سترګې ډنډ وې.

-تورګله! هغه يې ژوندی دې اوبو ته غورځولی....

راوړاندې شو؛لاسونه او پښې په پړي کلک تړلي او بيا يې له موټره لاندې راټېله کړی.

خبره مې ورپرې کړه؛ او تا ته يې مسيج لېږلی!

- هو، هماغه شېبه چې زما د زوی د مرګ ننداره يې کوله، ماته يې مسيج لېږلی.

-دا ځای مو څنګه وموند؟

-په درېمه ورځ د اوبو له بندولو وروسته مو د هغه جسد وموندو.

-قاتل يو نه دی.

-قاتل يو دی، تورګله، خو له ملګرو يې زما د زوی په وژنه کې مرسته غوښتې...

-هغوی ټول قاتلين شمېرم.

هغه څه ونه ويل، دلته نور پاتې کېدل بې ګټې و، له هغه مخکې مې د موټر دروازه خلاصه کړه؛ اوس بايد لاړ شو.

له موټر روانولو سره يې وويل؛ هغه ځای به هم دروښايم چې زما زوی يې ترې راويستی.

-خوښه مې ده.

هغه نور څه ونه ويل او زه په فکر کې ډوب شوم؛ قاتل غل نه دی، دښمن نه دی، څوک دی؟ څو تنه دي؟ ولې يې وژلی؟ دا هر څه ماته پټ و، يوازې د وژنې په راز پوی شوی وم او زما فکر ناتوانايي ښووله، سګرټ مې ولګولو، بيا مو د يو نوي جوړ شوي مارکېټ مخ ته پارک کې ودرېدو.

دواړه کېوتو، په اوږه يې لاس راکښېنود؛ دا د هغه په نوم دی، ورځ به يې دلته تېروله.

ما د مارکېټ نوم پسې سترګې واړولې؛ نور تجارتي مرکز.

هغه زه روان کړم؛ راځه د هغه دفتر ته به لاړ شو....

د نور دفتر درېم پوړ کې و، هلته له کېناستو وروسته مې ګردو خواو ته سترګې وګرځولې، هرڅه منظم ايښې وو، دېوالي ساعت ته مې وکتل، ۵ بجو ته ستنه نژدې کېده، ورته مې وويل؛ دلته هغه يوائې کار کوه؟

هغه د اوبو ګيلاس په مېز راکښېنود؛ هو يوائې و !

ګيلاس مې په سر واړوه؛ نو هغه دا هر څه خپله منظمول، کوم خدمتګار يې نه لره؟

کېناست؛ لالين دلته کار کولو.

-لالين څوک....

خبره يې راپرې کړه؛ يوه غريبه ښځه ده.

په پښو تکيه شوم؛ راويې غواړه...

زما خبره يې بې باکه واخېسته؛ ناوخته دی. سهار به..

له ځايه جېګ شوم؛ ته نه غواړې چې زه دې قضيې ته داخل شم..

سمدستي هغه هم راپورته شو؛ د هغې کور ته به ورشو.

-سمه ده.

له ښاره د وتو وروسته يو زوړ او خيرن کلي ته ورسېدو، په چکړ سرک موټر ودراوه او بيا دواړه په تنګه او بوينه کوسه ورننوتو، هغه د مخامخ کور دروازه په لاس وټکوله او ورننوت، شېبه وروسته يې ماته هم د ننوتو غږ وکړ.

وړوکی انګړ و او مخامخ وړه ټېټه کوټه وه، درې ماشومانو چې غټې يې جونې او بل هلک چې پرتوګ او کميس په غاړه نه وو سره په لوبو اخته وو، يوې ښايسته ښځې ماته د خولې سترې مشي وويل، زوړ شلېدلی کټ يې راواخېست، زه او هغه په کټ او ښځې درشايي ته تکيه وکړه.

عمر به یې تقریباً ۲۳ کالو ته رسېده، لوړه ونه یې لرله او فکر مې کاوه د ښایست پرې ختمه ده خو د ناچارۍ څپېړې په مخ وهلې ده.

زړه کې مې ناولي وسواس جوړ شو، لالین ته مې د اوبو راوړ وویل، د هغې له پاڅېدو وروسته مې شتمن ته سر ور وړاندې کړ؛ نور واده کړی و؟

هغه په نا اشنا انداز راوکتل، ما په کې سترګې خښې کړې وې، ویې ویل؛ نه، ټینګار مو پرې نشو کولای.

وسواس مې په شک بدل شو، لالین راستنه شوه، ګیلاس مې ترې واخیست او و مې پوښتله؛

-نور سره دې څنګه اشنا شوې؟

هغې ماته ونه کتل؛ کله چې زه تېره کال ښار ته مرستې اخیستو پسې راغلم، هغې شتمن ته مخ کړ؛ دوی هره میاشت غریبو کورنیو سره مرسته کوي، هلته نور زه ولیدم او مور سره له جوړ جاړي راتلو وروسته د هغه موټر کې په ګډه دلته راغلو.

-ته له هغه سره په دفتر کې کارکوونکې شوې.

-هو، ماته یې د میاشتې معاش وټاکه او ۷۰۰۰ روپیو باندې زمور بسنه کېده..

-ستاسو د کور سرپرست څوک دی؟

هغې څه ویل چې شتمن یې خبره ور وچه کړه؛ یو پوډري دی، دوی د خدای بې وسه دي، نور زوی مې چې کله دا لیدلې وه، زړه یې پرې سوزېدلی و.

ما جواب ورنکړ، لالین ته مې مخ کړ؛ له نور سره د جوړ جاړي وروسته په دې پوی شوې چې ستا ښایست نیولی دی، نو بیا خو به تا هلته د دفتر صفایي او چای کولو پرته بل څه هم کول، چې ته پرې له راضي کېدو وروسته هلته مقرره شوې وې.

- بلکل ! ما ځان پلورلی و، څه چې د نور خوښه وه ما منل، هغه پیسې لرلې، مستي یې لرله، ښکلی و او کومه ښځه دا نه خوښوي ؟ له ما پرته یې

اونۍ کې حتمي يو ځل له ما ښايسته راوړله، هغې سره به يې ساعتونه ساعتونه محفل کاوه او دې کار به هم ماته زور راکاوه، چې ولې د هغې پر ځای زه وانه وسم.

اوس نو زما شک په يقين بدل شوی و، ورته مې وويل؛ د نور د وژل کېدو مخکې دې کوم داسې څه نه دي ليدلي چې پرې شکمنه شوې يې؟

- هغه به تل له يو چا سره خبرې کولې او زه باوري وم چې هر څوک ده نور به يې د ژوند ملګرې کوي، خو ماته يې يوائې د هغې نوم ښوده چې سادي نومېږي او مينه سره لري.

- سادي دفتر ته کله له نور سره نه وه راغلې؟

- په وروستي ځل مې چې نور ولېده، د سهار ۱۰ بجې وې، زه تل له هغې مخکې دفتر ته تلم، جارو به مې کوله او هر څه مې منظمول، باور وکړه ما په مينه هلته کار کاوه، چې هغه له دوه تورو پلاستيکونو سره يو ځای راننوت، ما فکر کاوه يوائې دی، خو ناڅاپه يو جېګ قدې جينۍ رادننه شوه، ما د هغې ښکلا ته سترګې نېولې وې، زه يې دردولم چې ولې يې دفتر ته قدم راننويست؟ مجبوره هم نه ده، ځکه چې ورته مې ليدل د کومې لوی کورنۍ ښکارېده او بيا به مې داسې انګيرله چې سادي به وي.

په بې صبرۍ مې وويل؛ نو هغه سادي نه وه؟

سترګې يې راکې ښخې کړې؛ وه، سادي وه، نور راوپېژنده ما هغې ته هر کلی وکړ، نور ماته کور ته د تلو وويل، دا يادونه يې هم وکړه؛ چې بيا زه احوال درکوم، له هغې ځايه بازار ته د سودا اخيستو ته ووتم، غوښتل مې ښار کې ورځ تېره کړم، له اندېښنو سره مل مې د نور تيلفون ته سترګې نېولې وې، مازيګر ناوخته شو، خو خبر يې رانه کړ او زه کورته راغلم ټوله شپه مې د سادي او هغه په اړه فکر کاوه، خو نشوم پوهېدی.

- سهار ته دفتر لاړه نشوې؟

- لاړم، ليدل مې چې هغوی بې شماره بوتلونه تش کړي دي او څه څه يې چې سره کړي وو، هغه هما لته ښه معلومېدی شول.

ـ هماغه څه چې له نورو سره یې کول، له تاسره یې کړي و؟ له سادي سره هم شوې و، همداسې نه وه.
ـ همداسې وه مامور صېب.
شتمن ته مې غږ کړ؛ لکه اورېدلی یې چې نه وي، ومې خوځواه، هغه اوتر راکښناست؛ وېښه مامور صېب! له دړېو ورځو راهېسې بې خوبه یم.
ـ د مارکېټ څوکېدار ته زنګ ووهه او پوښتنه ترې وکړه چې، نور څه وخت وتلی.
هغه ژر موبایل راوویست، شېبه وروسته یې خبرې وکړې، بیا یې ماته وویل، له تیارې خورېدو وروسته مامور صېب.
له هغه مې وپوښتل؛ کور ته څه وخت در ورسېد؟
ـ ډېر ناوخته و، ما ورته انتظار ووېست موبایل یې بند و او بیا زه چې وېده شوی وم نیمه شپه راغلی و.
لالین ته مې وویل؛ ساد ي په داسې څه پوهېږي چې له مور پټ دي او کېدای شي هغه څه وي، چې مور ته قاتل راپه ګوته کولای شي.
هغې څه ویل غوښته چې زما موبایل و شرنګېده، لالین څه ونه ویل، موبایل مې راوویست حضرت ګل و.
له ځایه جېګ شوم؛ مور باید لاړ شوو. له لالین نه مې مننه وکړه او راووتو.
موټر ته له ختو وروسته مې د هوکی بټن کېښکاږله؛ اورم حضرت ګله!
- چرته یې مامور صېب؟...
ـ څه دي؟
ـ زه تا نشم پوهولی، ماموریت کې درته انتظار یم، یو مجرم هم تاته انتظار باسي.
ـ نادانه! هغه دې په څه نیولی؟
ـ په قتل مامور صېب!

اند ښمن شوم، حضرت ګل زياته کړه؛ هغه يوه ځوانه جينۍ ووېشته، د ښار عمومي چوک کې، داسې جينۍ چې په مرګ نه پېرزو کېده، خو ده ظالم يې په سينه مرمۍ ويشتي، ته راشه دا به درته نور هر څه ووايي.

ـ سمه ده او له شتمنه مې وغوښتل چې ما تر ماموريته ورسوي.

ماموريت ته له رسېدو سره له موټره کوز شوم، هغه وويل؛ زه سهار تا ته انتظار يم...

ـ انتظار دې بې ګټې دی، کله چې قضيه پای ته ورسوم خبروم دې.

هغه څه ونه ويل، له تلو وروسته يې په تېزۍ ماموريت ته ننوتم، په دهليز کې په چوکۍ ناست مجرم مې وليده چې حضرت ګل يې لاسونه شا ته ورتړلي وو، هغه په ځمکه سترګې خښې کړې وې، سر مې يې راجېګ کړ، د مجرم مخ ته په کتو مې زړه و دردېده، هغه ښکلې ځواني لرله، قد قامت او هر څه يې د کوم رسېدلي هلک ښکارېدل، د نوم پوښتنه مې ترې وکړه.

امين نومېده، حضرت ګل ماته چوکۍ پرېښوده، امين ته مخامخ کېناستم، حضرت ګل ته مې مخ کړ، هغه خو به دې شکنجه کړی نه وي.

ـ نه صيب ! ګوتې مې هم نه دي ور وړي، په ډېره ښه موقع مې ونېوه، داسې چې کوم زور زياتي ته ضرورت پيدا نه شو، په هغه ګاډي کې چې دوی پکې ناست وو زه شکمن شوی وم، دده له کېوتو سره ما ځان ور ورساوه خو مرمۍ يې وېشتې وې او کله يې چې زما تمانچه په سر وليده تسليم شو.

امين ته مې مخ کړ؛ حضرت ګله ! ده کولای شو، تا هم ختم کړي، خو داسې يې ونه کړه او اوس به هم موږ ته د خپل جرم روښانولو کې څه نه پټوي، که څنګه امينه؟

هغه غټې سترګې راواړولې؛ څه نه پټوم !

ـ حضرت ګله ! جسد سره دې څه وکړه، موظف امنيتي کارکوونکو روغتون ته يوړه او د هغې له کورنۍ سره مو هم اړيکه ونيوله.

امين ته مې وويل؛ له هغې سره چې ودې وژله له مخکې اشنا وې؟

-هو، له ډېر پخوا مې پېژندم.

-د هغې وژلو ته ولې مجبور شوې؟

-ماته یې دوکه راکړه داسې دوکه چې ما یې د زغملو تاب نشو لرلی، د هغې له لاسه زه قاتل شوم، ما د هغې انتقام واخیست، خو د کوم څه په هیله چې وم هغې یې د راکولو انکار وکړ، زه یې و ګواښلم چې ترې لاس ووینځم، هېره یې کړم، ما نشوه هېرولی، راته ګرانه وه او له دې پرته بله لار نه وه چې زه یې په خپلو لاسو ووژنم او له فکر نه یې وباسم.

-هېره دې کړه؟

-بېشکه، اوس د هغې وجود نشم لیدی او په ځان راښوولو به زما زړه نشي پارولی.

حضرت ګل ته مې وویل ؛ اوبه راوړه.

د هغه له تلو وروسته مې له امین نه وپوښتل؛ هغه څوک وه؟

راویې کتل؛ د هغې له نوم سره ډېر خلک اشنا دي او زما په شان یې سلګونه نور هم د ښکلا لومو کې بند کړي وو.

-څه نومېده؟

-سادي.

په چوکۍ رانبغ شوم، سترګې مې رډې پاتې شوې، هېڅ مې نه باوروله حضرت ګل راورسېد، ګیلاس یې مې ترې واخېست، ګوټ مې وکړ، سترګې مې امین کې خښې وې، حضرت ګل ته مې وویل: لاسونه یې خلاص کړه.

هغه سمدستي لاسونه ورخلاص کړل، ګیلاس مې ور وړاندې کړ؛ و څښه!

ګیلاس یې په سر واړوه، تش ګیلاس یې حضرت ګل ته ورکړ او په خبرو یې شروع وکړه.

-هغې زه قاتل کړم.

-د چا قاتل؟

ـ مانه پېژنده، سادي راته ویل چې د قتل وروسته به راسره واده کوي، دواړه به د هغه په شتمنۍ مزې کوو، خو کله چې مو هغه وواژه، پوی شوم چې ماته یې هم دوکه راکړې، هغې کله هم نه غوښتل چې زما شي.

ـ ځوک چې دې وواژه یوائې د هماغه وه !

په خیریت کې شو؛ څوک ښایي؟

ـ نور، چې تا او سادي وواژه، هغه مو په دردوونکي مرګ وواژه، سادي غوښتل له هغې خپل قسات واخلي.

خبره یې راپرې کړه؛ د څه شي قسات؟

ومې خندل؛ تا تر اوسه سادي ښکل کړې ده؟

ـ نه، د هغې د ښکلولو ارمان به نور ونه کړم؟

سګرټ مې راوویست، هغه د یو غوښتنه وکړه، سګرټ مې ورکړ.

ـ خو نور دا ارمان پوره کړی و، په کومه ورځ چې سادي تاته د نور د وژلو پلان دراوښود، یوه ورځ مخکې دواړو عاشقانه بنډار کړی و، هغوی جامونه په سرونو اړولي وو، د یو بل په غېږ کې لوبېدلي وو...

د امین مخ سور شو، غوښتل یې په ما راټوپ کړي، خو حضرت ګل په یو سوک په ځای کېناوه، چغه یې کړه؛ سادي له هغې جونو نه وه چې څوک دې خپلې سینې ته لنډ کړي، ما پېژنده..

سګرټ مې بل کړ؛ زه پوهېږم، خو نور هغه تېر ویستې وه، سادي له نشې تلو وروسته پوهېدلې وه چې څه ورسره شوي دي، هغې بله لار نه لرله پرته له دې چې د نور سره واده وکړي.

کله یې چې نور ته تیلفون کړی، نور یې له خبرې انکار کړی، چې ورسره د سادي د غېږ اخیستو جذبه پاربدلې او ستا په مرسته یې هغه د مرګ په لومه کې ګیر کړی، اوس ووایه چې هغه مو څنګه وواژه.

زړه یې نه غوښتل نورې خبرې وکړي، خو جدي شوم؛ کیسه وکړه !

هغه سرا راجیګ کړ؛ موږ له ښار دوه کیلو میټره لرې وو، سادي راته وویل چې زه یې په تیلفون رابلم او هغې همداسې وکړل، له ډېر انتظار

وروسته یو لکسس موټر مو را روان ولید ، زه د سادي موټر سره ودرېدم، موټر راورسېد ، سادي ورپورته شوه.

د موټر له روانېدو سره ورپسې شوم، نېر ته له رسېدو سره موټر ودرېد ، پوی شوم چې سادي يې په سر تمانچه ور ابښې او زما په تمه ده، ژر مې ځان ور ورساوه ، سادي ماته امر وکړ چې د هغه پښې او لاسونه ور وتړم، ما هماغسې وکړل، باور وکړه مامور صېب، زه خبر نه وم چې سادي به يې په دومره دردوونکې مرګ وژني، کله مې چې سینډ ته ترلی ور وغورځاوه، هغه وخت مې هم داسې فکر کاوه چې خوب وینم، ډاروونکی خوب...

له ځایه جېګ شوم؛ سادي دې خنګه ووژله؟

-نن سهار يې زنګ راوواهه چې مازیګر به سره ووینو.

مازیګر ته مې انتظار ویسته، چې راورسېده موټر ته ور پورته شوم، ما لا څه ویلی نه و چې هغې شروع وکړه؛ امینه مور سره واده نشو کولای، په خبره يې شکمن شوم، فکر مې کاوه راسره ټوقې کوي...

سادي زما پروا ونه کړه، له سبټ بورډ نه يې د پیسو درې بنډله راو ایستل؛ زه تا ته ۲۰۰۰۰ ډالر درکوم، ما هېره کړه.

- ورته مې وویل؛ نه دې شم هېروی، ویې ګواښلم، که لاس دې ماته راورسېد ، د نور انجام به دې په برخه شي، ته به ما هېروې.

هغې موټر ودراوه ، ما دروازه خلاصه کړه او له کېوتو سره مې وویشته.

حضرت ګل ته مې ورولیدل ، پوی شو چې څه غواړم لاسونه يې ور وتړل او زما له مخې يې پورته کړ، د هغوی له تلو وروسته مې شتمن ته زنګ وواهه ؛ قضیه پای ته ورسېده !

# شهوت

مخ او کالي يې په خاورو ککړ وو ، په يوه ساه يې بېلچه وهله او د قبر خاوره يې بره غورځوله، کله چې بېلچه د تېږې سره ولګېده، يو برېښوونکی اواز پورته شو ، چې د هديرې درنه چوپتيا يې ماته کړه، ويې موسل، په خوارۍ يې اوږدې او پلنې ډبرې لرې کړې، د ډار ټولې لارې يې پر مخ تړلې وې ، جامې يې وويستې او ورځملاست.

ناڅاپه هلته سپين پړق شو ، ګناهګار يو بې ژونده ټاپو ته وغورځېد ، چې ګردو خواو ته ترې اوبه بهېدې، انسان څه چې حيوان هم نه ليدل کېده.

بېرته نيمه شپه شوه، ښځه ژوندۍ شوې وه او دا يې تر خپلې سينې پورې کلک نيولی و ، ساه اخيستل يې په درېدو شول، سترګې يې ټېغې ټېغې راووتې.

نه يې باوروله چې مرګ به ورته رارسېدلی وي ، خو اوس ورته مخامخ ولاړ و او ده ته يې يوه يوه ګناه وريادوله.

د نامه نه ښکته بدن يې بې روحه شو ، ژبه يې ورو ورو په وچېدو شوه ، غوښتل يې چې يو غړپ اوبه له مرګه مخکې تر ستونې تېرې کړي، په عذر و زارۍ يې پيل وکړ ؛ لويه ربه ! ماته د ژوند کولو يوه موقع راکړې، نور به هغه کارونه نه کړم چې ته پرې خفه کېږې او ستا بنده ګانو ته يې ضرر رسي........

اواز يې واورېد ؛ ته تل په سخته کې د نښتو وروسته ژمنې کوې، خو کله پرې ولاړ پاتې شوی يې؟
د ګناهګار د ژوند هيلې راوپارېدې؛ زه... قسم خورم... داخل يې نه ماتوم.
له دې خبرې سره يې سينه خلاصه شوه، هغه نېغ کېناست، ځان ته يې وکتل، خولې يې د بدن پورې نښتې خاوره وينځلې وه، وپوهېده چې وهم نيولی و، خو بيا هم په ژوند شکي و، جامې يې واغوستې.
لحد يې ببرته وپوښلو، له قبره راووت ، په زړه يې لېونتوب خورو، په لړزېدلو لاسونو يې ببلچه راواخېسته او سپړلی قبر يې د مخکې په شان ډک کړ، بيا يې تازه واخېسته، غوړونه يې ونيول؛ شهوت لمبه ده، توبه توبه ده، مخ په کعبه ده.

# ګورګوره

د ګورګورې غر په ګورګورو داسې پوښل شوی و چې د لرې ځایه د جنت ځمکه ښکارېده، د غره په غېږ کې د لرګو وړوکی کور جوړ شوی، چې د لاندې ځایه یې څوک نشي لیدی، هلته د انسان ژوند ناممکن دی، خو د دوه زړونو یو ځای والي هرې ستونزې ته غاړه ورکړې.

وړوکي کور کې غاټول او لښته اوسېږي، هغوی سره مینه لرله او لرې یې، خلکو ته د دواړو مینه د زغملو نه وه او کله چې دوی پوی شول؛ کلي کې په اوسېدو یې هیله نشي پوره کېدی، نو د ګورګورې غره ته راوتښتېدل او خپله مینه یې په ثبوت ورسوله.

لښته او غاټول په غره کې تر هر چا ښه بلد وو، ځکه چې تل به یې پکې د مینې بنداړ جوړ کړی و او

خلکو هلته له تلو وېره کوله، ځانونه یې په دې تېر ایستل چې دواړه به د غره خوراک شوي وي.

غاټول له لښتې سره د غره اخر سرته ځان ورساوه، هلته چې ګردو خواو ته دګورګرو بخمل خور شوی و، په شریکه یې جونګړه جوړه کړه او د ژوند

شېبې يې په خوښۍ تېرولې، د کلونو په اوښتو د هغوی د مينې ثمره درې لوښې و ټوکېدې، ممانه، څېړۍ او درېمه ګورګوره چې يوه له بلې ښکلې او زړه راښکوونکې وه.

د ډېرو سختيو ګاللو وروسته ممانه او څېړۍ راغټکۍ شوې، لښتې او غاټول به ګورګورې ټولولې، چې هغوی يې په شنه خړه کلي ته ورسوي او په بدل کې يې خواړه راوړي.

کله چې يوه شپه هغوی دواړه کور ته رانغلې، نو غاټول او لښتې په زړه وخوړه چې بيا به راستنې نه شي، لښته اوس هغه تانده لښته نه وه پاتې او نه غاټول هغه غاټول و چې خلک به يې په ليدو نه مړېدل، د ممانې او څېړۍ غم يې زړونه وريت کړه.

يوه ګورګوره پاتې وه چې د خوړو راوړو لپاره يې کلي ته کېباسي، هغوی پوهېدل چې ګورګوره لا ددې کار توان نه لري، خو د هغې له لېږلو پرته بله چاره نه وه، ، بې له خوړو يې څنګه ژوند کړی وی؟ او اوس ګورګوره له کوره وتې هم وه، غاټول او لښتې يواځې په بې صبرۍ د هغې راتلو ته سترګې نيولی شوې.

***

د لمر سترګې تازه څرک وهلی، د ګورګورو په ځنګل پروت شبنم له بره نه په لاندې کېوتو کې ماشومه ګورګوره غوړوي، د سحر نرۍ باد يې پاسته طلايي ويښتان رپوي او د هغې شونډو ته موسکا هم وربښي، په تن يې درنې غرنۍ جامې چې مور يې په لاس وراوبدلې دي پرتې دي، ګورګوره د ګورګورې غره کې زېږېدلې، لوبېدلې او لويه شوې ده، خو پلار او مور کله هم خوښه نه ورکوله چې له کوره وراندې ولاړه شي، ډاروله يې چې د ګورګورې غره ډېر ژوندي له ستونې داسې تېر کړي چې بيا يې مړی او ژوندی نه دی معلوم شوی.

ممانړه او ښېرۍ ورسترګو ته شوې؛ په کوم سهار چې له کوره وتې وې، دې ته ياد و او هغه ورځ هم دنورو په څېر د هغوی په تمه وه چې له خوړو سره به راوګرځي، خو داسې ونه شو.

مابنام هلته د ساز پر ځای غمجنه خاموشي خوره شوه، هر ځل به يې چې د مور او پلار سترګو ته وکتل، نور به يې هم زړه په ډوبېدو شو، ځکه د هغوی دواړو ښېرو ښووله چې خويندې يې د غره خوراک شوې دي او بيا نن ورځ هم راورسېده، چې هغې بايد خپلې خويندې هېرې کړې وی، ځکه نن د هغوی دنده دې تر سره کوله.

ډارېده؛ هسې نه چې د ممانړې او ښېرۍ په شان دا هم بېرته کور ته ستنه نشي! وړه ټوکرۍ کې پرتو ګورګورو ته يې وليدل، لکه جذبات يې چې پارېدلې وي، د هغې په راټولولو يې ګوتې سورۍ سورۍ کړې وې، هغه يې بايد تر کلي رسولی وی، بېرته يې پښو کې طاقت پيدا شو.

ځومره چې لاندې کېوته اوترېده، هېڅ نه پوهېده چې څه به ورپېښېږي؟ خو نه يې شول کولای هغه فکرونه بدل کړي، چې دا يې اند ېښمنوله، مايوسه کوله او بيا يې د پښې لاندې تېږې ښوېدو سره ځان کابو نشو کړی.

***

اغزي به تل له ټولو مخکې د ممانړې او ښېرۍ په راوړو ګورګورو خوله توروله ، د هغه له ګورګورو سره د بې کچې مينې اندازه له دې کېدای شوه چې سهار به د دواړو خويندو له راتلو مخکې ده خواړه په لاس ورته انتظار ويسته، خو نن دريم سهار و چې هغوی نه راتلې.

ډېر ېېتابه و ، غره ته د روانېدو او ختو تکل يې وکړ او ور روان شو ، هغه به په ۱۲ کلنۍ پښه ايښې وه، خو تندرست وجود يې و چې په مزل کې يې ورسره پوره مرسته کولای شوه.

لمر د اسمان په منځ ولاړ و او سوزونکو وړانګو يې د ګورګورو په ځنګل توده لمبه خوره کړې وه، اغزی په خولو لوند خېشت شو، خو دمه يې زړه نه غوښته، غوښتل يې پوی شي چې دوه خويندې ولې اوس ګورګورې نه راوړي؟ د غره نيمايي ته رسېدلی و چې غږ يې واورېد، د جينۍ غږ، اوتر او د وېرې ډک غږ او بيا يې هماغه لور ته منډه واخېسته...

***

ګورګورې سترګې وغوړولې، چا يې په مخ اوبه ورشېندلې، په ځای کېناسته، لکه کوم رنګين خوب يې چې چا ورخراب کړی وي، اسمان نه ښکارېده، زړه يې په درېدو شو؛ لکه چې د غره خوراک شوې ده! بيا يې مخامخ ولاړ هلک وليد چې د اوبو پتک يې لاس کې نيولی و.

اغزي د جينۍ په هوښ راتلو سره وموسل؛ ستا غږ مې واورېد او په سختۍ مې دلته ومونديې.

هغوی دواړه د ګورګورو د ګڼو بوټو لاندې خاليګا کې وو، ګورګوره هېڅ نشوه پوهېدی چې له دې ځايه به د وتو لار وي که نه؟ کېدای شي ممانه او ځېړۍ هم دلته له راغورځېدو وروسته نه وي بهر شوي، هغه ډار ونيوله، بدن يې په رپېدو شو، هلک ور وړاندې شو، د هغې د ملا پورې نښتي اغزي يې لرې کړل؛ زه اغزی نومېږم.

ګورګوره ډاډه شوه؛ زه ګورګوره يم، مور د غره اخر سر کې اوسېږو، مور او پلار به مې زما په تمه وي او اوښکې يې روانې شوې.

د اغزي سترګې خوښې شوې؛ زه ګورګورو پسې راغلی يم، مخکې به دوه جونو کلي ته راوړلې، خو اوس هغوی نه راځي.

ګورګورې ته ممانه او ځېړۍ مخ ته ودرېدې؛ خويندې مې وې، هغوی له ګورګورو راوړو وروسته بېرته نه دي راغلي.

-ما فکر کاوه، ناجوړې به وي!

-زه وایم د غره خوراک شوې به وي، زمور په څېر.... او په قهر شوه ؛ تا ولې خپله ځان د غره خوراک کړ؟

اغزي د هغې اوښکې پاکې کړې؛ ګورګوره بې اغزي نه وي، بیا یې له ځایه راپورته کړه؛ زه چې په کومه لار دلته راغلم، کولای شو په هغې ووځو.

ګورګورې هغې ته لاس ورکړ، بیا چوپتیا شوه، سخته لار وه او ګورګورې یې د لیدو وروسته داسې انګیرل که دا لار یې لیدلی هم وی په یواځې ځان به له دې ځایه هېڅکله نه وی راوتی.

کله چې راووتل، ګورګورې هره خوا په ځعلنده نظر وکتل، د اغزي لاس یې په لاس کې وپیچلو؛ دا له لاندې ښکلې دنیا ده.

اغزی چوپ و، خپل راوړي خواږه یې راواخیستل؛ ګوره ما خواږه راوړي او نور به یې هره ورځ تر دې ځایه راوړم...

ګورګوره سره شوه

-او زه به ګورګورې....

## بښنه

-د رب له خوا تا ته ښه راغلاست وایو.
-زه له رب سره د مخ کېدو تېښته کوم.
-خو ته راورسېدې.
-دا دروغ دي...
-خوا او شا دې وګوره، ته نور له کوم انسان سره ژوند نه کوې او ستا دنیا د ټولو له سترګو پنا شوې.
-دا یوازې رنګین خوب دی.
-له ژوند سره دې خدای پاماني کړې او خوشبختي دې په نصیب شوه.
-زه باید په دوزخ کې لویدلی وی، په ما تور ښاماران راټول شوی وی، ځمکې پیچلی وی او د عذاب پرښتو په ګرزونو ذرې ذرې کړی وی، زه یې نشم باورولی.
پرښتې وخندل: ته ارام ته ضرورت لرې او په هر څه به وپوهېږې.
انسان تر ځواب ورکولو مخکې خوب یوړ.
وروستۍ وریاد بدونکي پېښه یې ولیده چې ښار ته په تلونکي سرک یې قدمونه وهل، چوک ته لنډېدو سره یې تاوېدونکي موټر ته لاره پرېښوده او ډرېور ته یې ور وکتل، شکمن شو چې نشه دی او کېدای شي د خپلې مستۍ نه یې په موټر ووهي.

مخکې مخ اړولو سره یې څه ویل غوښته چې په بدن یې سخته څړیکه احساس کړه ، د سترګو پټېدو وخت کې یې داسې و انګیرله چې د وجود رګونه یې چاودلي وي.
د انسان د شونډو موسکاو ښوووله چې په هر څه پوی شوی او له خوبه رابیداریدو سره یې مخکینۍ پرښته اړخ ته ولیده چې ده ته انتظار وه.
-ته باوري شوې؟
-نه.
-ولې؟
-ته زما له کړنو خبره یې؟
- خبره یم ، خو له مرګ وروسته رب په تا مهربانه شو ، ښښنه یې درته وکړه، ځکه د ژوند وروستۍ هیله دې ښښنه وه.

# له سپيانو تښته

## پوليسي کيسه

-صيب! مور په خطر کې لويدلې يو...
-معلومه به شي.
نور څه مې ونشو ويلی، زما وجود بې سېکه شو، پښې مې په لړزه شوې او په غورځېدو شوم.
حضرت ګل زما لور ته منډه راواخېسته، چې ورسره سم د قوي اندام پټ مخو کسانو هغه راقابو کړ او بيا زه په ځان پوی نشوم.
چا مې په مخ اوبه راوشېندلې، سترګې مې وغوړېدې، نشوم پوهېدی چرته يم؟ تياره خونه کې يې اچولی وم، لا فکرونو کې ورک وم، چې غږ مې واورېد؛ جېګ شه، چې ځو!
درد ناقراره کړی وم، په سختۍ مې وويل؛ چېرته.
-چې ورشې وبه يې وينې.
لاسونه او پښې مې تړلي وو: که په اوږه مې وړې تلای شم.
د هغه غورار مې واورېد، سترګې مې شېبه په شېبه تيارې سره په اشنا کېدو وې، راوړاندې شو، په دوه پښو له کېناستو وروسته يې د پړې په خلاصېدو شروع وکړه.
-زما ملګری...
خبره يې راپرې کړه: ترې خبر نه يم.
پښې مې خلاصې شوې، په پنجو مې زور راوست، له هغه مې د نوم پوښتنه وکړه، دادا نومېده.

له يو لاسه نيولى يې روان کړم، دروازه يې خلاصه کړه چې ورسره سم کوټې ته تته رڼا ننوته، مخ ته اوږد دهليز تېر شوی و، دادا ته مې ور وکتل، ځواني يې لا خامه وه، خو د بدمعاشۍ بې شمېره نښې يې په وجود پرتې وې، چې په ليدو يې د سړي بد راتله.

د دهليز اخر ته رسېدو سره هغه مخامخ دروازه وټکوله او زه يې له ځان سره يو ځای ننويستم.

ما کوم خوب نه ليده، وکيل خپله په کوچ کې داسې ناست و، چې پيک يې له شونډو نه لرې کاوه، رګونه مې وپړسېدل: بې غيرته، د پردې تر شاه د بدبختيو لامل ته وې؟

- هو زه وم، هغه په خندا راپورته شو، چې د قدم راخيستو سره يې د ډېرې نشې اثرات ځرګند شول، په ټاليو راورسېد؛ سپيه! تا زما د لکونو ډالرو پروژه راشنډه کړه او زما ټول پلانونه دې په لته ووهل.

پوهېدم چې ورسره بحث کول کومه ګټه نه لري، بايد د تېښتې لار وموم، خو نه پوهېدم چې حضرت ګل چرته دی؟ او له دې ځايه د وتو لار هم رامعلومه نه وه، دادا دا شېبه دروازې ته کلاشينکوف په لاس ولاړ و او په خوښۍ يې له ګيلاسه تېرول.

ورغږ مې کړ؛ غواړم ځنباک وکړم، راځه مرسته وکړه!.

دواړو په قهقه وخندل، وکيل چې خوله يې نه ټولېده د ځټ له وښتانو ونيولم لاندې کشولو سره يې بوتل په خوله راننويست، ما غوښتل هغوی په لوبه کې ښکېل کړم، خو پته راته ولګېده چې اوس زه په لومه کې داسې په کبوتو يم چې يواځې د ځان ويستلو چاره هم نشم پيدا کولای.

وکيل وويل؛ مور. له هر چا سره مرسته کوونکي يو، ملګری مو درته د جنت شرابو ته لېږلی او ته به ورسره ژر مل شې.

ما يې په خبره شک نشو کولای، هغه ته دا ډېره اسانه وه چې له حضرت ګل سره مې يو ځای جسد له يوې داسې طرحې سره له منځه يوسي، چې زموږ اداره به يې د لامل پلټلو ته مجبوره نشي.

زړه مې شېبه په شېبه ډوبېده، د هغه نا اشنا ښځې تیلفون ماښام ۷ بجې راغلی و او د موقعیت له معلومولو وروسته مو د هغې لور ته حرکت وکړ...

زه لا فکرونو کې عرق وم چې وکیل راغږ کړ؛ تورګله ! ته پوهېږې، چې زما د نوم او شهرت اوازې ګرد خلک په میډیاویني او ستا لېونتوب ګوره چې زما د رسوا کولو پسې دې راخېستې ده، داسې سزا به درکړم چې پاتې ملګرو ته دې درس وګرځي...

خبره مې ورپرې کړه؛ وکیل صېب ! ته او یا نقابونو کې پټ یې او ما تر اوسه درنه یو نقاب پورته کړی دی...

په شیشه یې بوتل یې د مخ په هډوکي ووهلم، چې ورسره مې په سر کې کړیکې پورته شوې او د هغه د بې رحمیو په لیدو مې د ژونده تمه په پرې کېدو شوه، چغه مې کړه؛ له ما څه غواړې؟

و یې خندل او په کوچ له کېناستو سره یې دادا ته مخ کړ؛ لاسونه یې خلاص کړه، تورګل له مورږ سره یو ځای جام پورته کوي.

زړه ته مې خوښیو یو ځل بیا راوځغاستل او د ژوندي پاتې کېدو لپاره مې وړې موقعې ته سترګې ونیولې.

دادا راغی، ټوپک یې په کرسۍ کېښود او د پړي په خلاصېدو یې شروع وکړه، مخ مې بد سوزېده او یوائې تقدیر ته مې سترګې نیولې وې چې څه به راپېښوي؟

لاسونو کې مې وینه په چلېدو شوه، چې ورسره مې د هوساینې احساس وکړ، وکیل راته چوکۍ کې د ناستې وویل، دادا ته مې ور وکتل ګیلاسونه یې ډکول او د هغه ټوپک زما د لاس په اندازه لرې و، اوس نو زه کامیابېدم او یوه شېبه ضایع کول د چانس ختمول و، د هغې پسې مې لاس ور اوږد کړ او دا شېبه د دادا او وکیل سترګې ما ته په راوښتو شوې.

سپينې يې وتښتېدې، ځکه زه ګوته په ماشه وم ، وکيل کوشش کاوه خپل ډار له ما پټ کړي، ورته مې وويل؛ اوس به دې ټول نقابونه له مخه لرې کړم.

هغه له ځايه رامنډه کړه او له لغتې ورکولو سره مې ببرته چوکۍ کې ورسرېښ کړ، دادا لړزې نېولی و ورته مې وويل؛ ژر د هغه لاسونه ور وتړه.

ـ سمه... سمه ده.

د هغوی له تسليمولو وروسته مې فکر کاوه خوب وينم، خو زه د هغې موقعې په موندو کامياب شوی وم چې يو اځې يو ځل په لاس راتلای شوه، که څو شېبې مې نور د ټوپک په راخيستو کې ضايع کړې وی، نو اوس به دادا زما په سر ولاړ او وکيل چې اوس يې نو نشه کې تېشه وهل شوې وه، راته خپل چټيات ويلی او ما يې کله د زغملو توان درلود؟

دادا د وکيل د لاسونو له تړلو وروسته په برندو برندو راکتل، پرې مې برچ وهل؛ کېنه !.

بيا مې وکيل ته مخ کړ، بې شرمه سترګې يې په ځمکه خښې وې.

- حضرت ګل چرته دی؟

دواړو يوه شېبه يو بل ته وکتل او زما زړه په ښوېدو شو؛ خدای مه کړه وکيل رښتيا هغه نه وي وژلی چغه مې کړه؛ هغه مو څه کړ؟

وکيل لړزېدلی لاس دادا ته ونېوه؛ ده يې په همدې کلاشينکوف چې زمونږ په سرونو دې نيولی، سروپاشه...

رنګ مې زېړ وتښتېد ، د خولې مې لاړې په بادېدو شوې؛ او هغه ښځه څه شوه؟

دادا په مسخرګۍ وويل؛ هغې تاته د راز ويلو مخکې دا دنيا پرېښوه.

دادا رښتيا ويل، ځکه کله چې مې د هغې غږ واورېد ، له ډار سره مل ايسيده، زه د ماښام پېښې ته يو ځل بيا سوچ يوړم؛ ډوډۍ مو خوړه، چې زنګ راغی، نمبر يې راته نا اشنا و خو تنې کېکارېلو سره مې د هغې

وارخطا غږ واورېد؛ مامور صېب! غواړم تا ته داسې څه ووايم چې ډېر اړين دي.

ما لا ځواب نه و ورکړی چې اړيکه پرې شوه او زه په ناڅرګند تشويش کې ولوېدم، د نيول شوې اړيکې د ځای په اړه مې معلومات وکړل، سمدلاسه مې حضرت ګل سره يو ځای حرکت وکړ، له کوچني ښاره تر وتو وروسته ختيځ ته يو کيلو متر وړاندې د موټرو له تمځای نه يې ما سره اړيکه نيولې وه او هلته له رسېدو وروسته هغه څه وشول چې ما يې اټکل نه وکړ.

-هغې غوښتل ما ته د څه په اړه معلومات راکړي..

وکيل مې خبرې راپرې کړې؛ رينا غوښتل د اسنادو هغه کاپۍ پر تا وپلوري چې زما د پټو کړنو نه وې او اوس هغه په ايرو بدلې شوې.

-زه به ستا اصلي څېره خلکو ته وروښايم.

کټ کټ يې وخندل، دادا ته مخ کولو سره يې وويل؛ نشې کوی، مامور تورګله! تا غوندې رزيلان زما د امر تابع دي، خو ستا په حال افسوس دی..... ته خبر يې چې همدا شېبه په يو تيلفون سره تا له دندې شړلی شم، که کامياب شوې، محکمې نه د دوبۍ په يو کور باندې درې ورځو کې په قدردانۍ راوځم، ناپوهه! ته به زما کوم مخ خلکو ته ور وښايې؟، زه کوم مخ نه لرم.

د وکيل په جذباتو وپوهېدم، پروا مې يې ونه کړه؛ ځان پلورونکيه، ستا د سيوري لاندې انسانان په وينو سره دي.

- ځان مې پلورلی، ځکه داسې پوړيو ته رسېدلی يم چې څوک مې خندا نشي جوړېدای، چا ځان نه دی پلورلی؟

يو ته پاګل يې چې ټوپک دې زما په سر نيولی، ګنې ستا د ادارې مشر مشر لا زما په کړنو ډېر ښه پوهېږي، خو څه کوی شي؟

هغوی زما لمن نيسي، چې د سپيو غوندې څه ور واچوم او ما د نورو لمن، هغوی د نورو لمن او داسې ټول يو چا سره تړلي وي، ته په دې

وپوهېږه، ملامت نه يې، ته غواړې داسې يو څه وکړې، چې نوم دې لکه په ولسوالۍ کې چې وتی و ښار کې هم وباسې، خو دا ستا خيالونه دي، خيالونه.

د هغه چټيات مې نور نشو اورېدلی؛ رينا څه شوه؟

دادا په خبرو شروع وکړه؛ د هغې جسد سپيو وشکاوه او د هډوکو کالبوت مې هلکانو ته وسپاره چې سينډ ته يې وغورځوي.

په خيريت کې شوم، هغه څومره په سپين سترګۍ ما سره خبرې کولې، اندېښمن شوم، هلکان به بېرته رارسېدلي وي، يا به رارسي، زه څه کوی شم؟

که ژوندي يې يوسم؟ وکيل په خپله وويل؛ چې درې ورځې وروسته په قدردانۍ سره خوشې کېږم، د رينا سترې اواز مې بيا واورېد، د حضرت ګل خبره مې سترګو ته شوه، ماغزه مې لکه جوش چې شي، له سترګو مې اوښکې روانې شوې، نور نو د حضرت ګل په اړه د پوښتنو اړتيا نه وه، بېچاره به يې څومره په بې رحمۍ ويشتی وي؟ او بيا ما د وکيل او دادا د ليدو زغم ونشو لرلی....

***

حضرت ګل سترګې وغوړولې، وجود يې بد درد کاوه، د کېناستو سره يې لکه په سر کې چې ټکه شوې وي، سترګې يې غونجې شوې، بيا يې ژوره ساه واخېسته، شا او خوا ته يې وکتل، و پوهېده چې ځمکتله کې دی، ناڅاپه تورګل ورياد شو، غونې يې زېږ شو، خو بېرته د هغه خبره وريادہ شوه چې؛ مبارزه ناکامي شړي، په احتياط پورته شو.

لا يې هم سر دروند او ځان ورته بې سوره ايسيده، خو هغه بايد لږه سخته نوره هم په ځان منلې وی، هر څه ته يې دقيق وکتل، ګرد دېوالونه په الماريو پوښل شوي وو، هغه شکي شو، يوه الماری يې پرانېسته، په خيريت کې شو، ټوله له واسکټونو ډکه وه او بيا يې يو بل پسې الماری و ليدلې، قسماقسم وسلې او بې شماره بمونه هلته په مهارت ځای پر ځای

شوي وو، يوه تمانچه او څو ډک شاجورونه يې ترې راواخيستل او بيا د دراوزې په لټه شو.

هغه هره خوا سترګې واړولې، خو داسې ځای يې تر سترګو نشو چې سړی دې پرې د دروازې ګمان وکړي، نه پوهېده څنګه وکړي، پرته له دې بله لار نه وه چې يو څوک دده ليدو ته راشي.

په مايوسۍ بېرته کېناست، يو بل پسې پوښتنې ورپيدا کېدې؛ دوی څوک دي؟ مامور تورګل به يې کوم ځای اچولی وي؟

که څوک دده پسې رانشي، نو ولږه او تنده به يې ووژني، له ځان سره يې د خپل مرګ منظره جوړه کړه، رګونو يې جوش وکړ او يو ځل بيا يې ددې ځايه د وتلو هڅه وکړه.

د برېښنا د لينونو تعقيب يې وکړ، خو په سر او بر يې نه پوهېده ، باور يې و چې يوه لار شته، خو نه پوهېده چرته؟

ناقرار قدمونه يې اخيستل وروستۍ تمه يې د چا راتلو ته وه، هغه ګوته په ماشه ايښې وه او داسې يې انګيرله چې په راتګ سره به هغه ختموي او له دې ځايه به ځان باسي او که ويې نه کړی شو، نو لاره خو به ورمعلومه شي...

په همدې فکرونو کې ورک و چې د ډزو اواز يې تر غوږ شو، څو پرلپسې نورې هم وشوې هغه چت ته وکتل پوی شو چې اول پوړ کې کومه پېښه رامنځته شوې، د مامور چالاکي يې سترګو ته شوه او يقيني شو چې هغه به د ځان د خلاصون چاره کړې وي.

اوس هغه ته څنګه خبر ورسوي چې دا دلته دی؟ تمانچه يې چت ته ونيوه، له هماغه ځايه اواز راغلی و او ګوته يې په ماشه کښېکارله.

***

زه لا د هغوی بې روحه شويو جسدونو ته حيران پاتې وم، چې د پښو سره مخکې ځمکه مې مرميو راسوری کړه، پروت مې وکړ؛ ځوا نېمرګه! وکيل او دادا تسليم شوي دي، زما د وژلو کوښښ مه کوه.

کومې اند ېښنې چې د وکيل له وژنې وروسته ماته راپيدا شوې وې، د حضرت ګل له غږ اورېدو سره و تښتېدلې، زما له ژوند سره مينه راوپارېده، ما هغه مړ بللی و، ځکه مې د وکيل او دادا ژوندي ليدل نشو زغملی، په يوه شپه يې زه هم وژلم او رينا خو يې لا وختي وژلې وه.

د هليز ته ووتم، کله چې دادا دلته راوړلم، د ېوال ته مې ولاړه اوسپنې زينه ليدلې وه، لکه چې د همدې کار لپاره اېښودل شوې وه، راومې خښسته ، خو له دې اند ېښنې سره مل چې د وکيل نور سپيان راونه رسي، د کوچ لرې کول راته په يواځې ځان ستونزمن و، د زينې په ببېخ مې ځمکه ووهله، چې ورسره سم لاندې ښويه شوه.

نه پوهېدم ولې مې داسې انګيرله چې د حضرت ګل د ليدو تاب نشم لرلی، يواځې څو شېبې مخکې د هغه د مرګ په انځورولو سره زما ګوته په ماشه ټېنګه شوه، هغه شېبه وروسته راووت، بيا هم په خپلو سترګو شکي وم، لر بر مې ورته وکتل، وجود يې روغ ايسيده.

ورته مې وموسل: زه ستا له روح سره مخ شوی يم !

بيا مو ږ سره په خوښۍ غاړه غړۍ شوو، د هغه سترګې له اوښکو ډکې شوې؛ تا يې کار ورکړی.

- هغوی ته ماته پنا شويو کې حساب کړې او ما هم ونشوه زغملی چې هغوی دې دلته و اوسي.

ويې ويل: لاندې د لويو وسلو ګودام دی.

نور نو وپوهېدم چې رينا ماته څه ويل او راکول غوښتل؟ ستړيا مې لرې شوه، له هغه مخکې لاندې په کېوتو شوم؛ راځه، د بمونو الماری راښايه.

هغه له څه ويلو پرته راکوز شو، له ما تېر شو او ختيځ د ېوال ته لګېدلې الماری يې خلاصه کړه، دادي.

ور وړاندې شوم، دوه مې ترې راواخېستل.

حضرت ګل هم دوه لاس کې ونیول ، ترې مې واخېستل؛ وخت به ورکړو.

- څومره؟

- ۵۰۰سیکنډه.

هغه ژر ساعت ته وکتل. ما بمونه عیار کړه او د دواړو لویو دېوالونو الماریو پورې مې بند کړل.

په چټکۍ راووتو. دربم مې د دهلېز وروستي سر کې، چرته چې زه بې هوشه پروت وم او ځلورم مې د وکیل کوچ پورې ونښلاوه..

نور نو دلته یوه شېبه پاتې کېدل حطر ته لبیک ویل و، حضرت ګل د کړکۍ لویه شیشه ماته کړه او لاندې یې ټوپ کړ، د پرونر په لیدو مې د دادا جېب کیلي پسې ولټاوه، ومې مونده او بیا ما هم لاندې ټوپ کړ.

د تورو ښېښو موټر ته وروختو او په مخامخ بنده دروازه له کوره ووتو، زه باوري وم چې د هغه ځای د الوتو زور به تر ډېره ځایه ورسي او ماته پکار وه چې د سرعت ستنه له سلو ښکته نشي.

تقریباً یو کیلو میټر به تللي نه و، چې پرلپسې چاودنې وشوې، زړه مې له ټولو غمو بې غمه شو، یواځې یو څه لا پاتې و.

دا پټه خبره نه وه چې تر وکیله لوی سپیان به له دې هر څه خبرېدل او په هره لار چې وی زه به یې له خپلې مخې لرې کولم، حضرت ګل ته مې مخ کړ؛ د نن شپې تاریخ ولیکه، ځکه زما د ورکېدنې شپه ده، کومه پېښه چې رامنځ ته شوې، موږ ترې ناخبره یو..

حضرت ګل په ناپوهېدونکې انداز وویل؛ دا ته څه کوې؟ مامور صېب!

ومې خندل؛ بله لار نه لرم، مخکې داسې نه وم، خو نن راباندې خپل ژوند ګران شوی ، که ځان ورک نه کړم، زما له ژوند سر به ستا هغه هم عبث لاړ شي، موږ نه راسپارل شوې قضیه تر پایه ورسوله، که څه هم د زرګونه انسانانو او کورونو د نړېدو مخه د دوه کسانو او یو کور په منځه وړلو سره

ونیول شوه، خو زما او ستا خبره هیڅ چا ته د منلو وړ نه ده، احتیاط شرط دی، که د اداري غړي شکي هم شي د لویو سپیانو تر غوږو رسېدی شي.

څه وخت چوپ شوم، بیا مې موټر ودرولو؛ ته ښکته شه، خو ګوره سهار هېڅوک په تا شکي نه شي، کله چې درنه زما په اړه وپوښتل شو وایه؛ ماښام ۲ بجې د یوې ښځې له تیلفون راتلو وروسته وتلی او تر اوسه یې درک نشته.

هغه په ډکو سترګو راکتل، ورته مې وویل؛ کله چې دې زما د موندنې قضیه په غاړه واخېسته ، زه به خپل پلرني کلي کې تاته انتظار یم او وبه کړی شې په اسانۍ مې پیدا کړې.

هغه دروازه خلاصه کړه، کښوت، لاس یې راوغځوه؛ کله چې درشم اوږده دمه به کوو ، ځکه چې د دمې قضیه په غاړه اخلم.

ـ سمه ده.

او بیا زه په خپل تېر ژوند کې ورک پلرني کلي ته روان شوم.

# معجزه

د ګارنات ښار هرې کوڅې ته د مامين نوم رسېدلی و، هغه شل کاله وړاندې د کاروانه د پاتې کېدو وروسته دلته له تور استاد سره په خپله د ترکاڼۍ کار شروع کړ او لږ وخت کې يې څرګنده کړه چې؛ چالاک، هوښيار او تجربه کار هلک دی او د ژوند داسې پوړيو ته به ځان ورسوي چې ور رسېدونکي کم دي.

د تور دوکان د مامين له راتلو وروسته نوم وويست، د مامين په لاس چې څه جوړ شوي وو د خلکو سترګې يې حيرانولې او د ورځو په تېرېدو سره دوکان ته ډېر کار په راتلو شو، کال نه و پوره شوی چې تور د څنګ دوه درې نور دوکانونه هم واخيستل او له نوم سره يې د خان کلمه زياته شوه.

د تور خان ښځې مرينې مامين ته له زويه کم نه کتل او پوهېده چې؛ مامين د لوړ انساني مقام درلودونکی دی او له ځان سره يې دوی ته رڼاوې راوړې دي، خو تر اوسه مرينه او تور نه پوهېدل چې مامين ولې خپلې کورنۍ ته ستنېدل نه غواړي؟ په هماغه لومړيو کې ورته دوی ټينګار کاوه؛ چې تر کاروانه به يې ورسوي، خو مامين يواځې چوپتيا غوره کوله چې نارضايت به ترې څرګندېده.

که دوی به ترې د تېر ژوند په اړه پوښتنه وکړه مامين به ويل چې؛ زما له زېږېدو سره زما کورنۍ ته بدبختۍ ورپه مخه شوې، په کوم کلي کې مو

چې استوګنه لرله او څه مو لرل له لاسه مو ورکړل او بيا زما مور پلار مجبور شول کلي ته شاه کړي او په يو نامعلوم سفر لاړ شي.
ډېرې شپې او ورځې مو مزل وکړ، له يو لوی کاروان سره يو ځای شوو، د کاروان خلک په مور ورحمېدل، پسته ډوډۍ مو تر لاسه کړه او هغوی دومره مهربانه و چې ماته يې وچې مېوې هم راکولې، خو زه چې د کوم څه په اړه اندېښمن وم، په هغې هېڅوک نشو پوهېدی، ما بايد هغوی پرېښې وی؟ ما ليدل چې له کاروان سره زما پاتې کېدل به په هغوی کومې بلاوې رانازلې کړي، کله چې کاروان ددې ښار په رباط کې واړوله، نو ما له هغې ځايه ځان راوويست، زه مې د مور او پلار په اړه پوهېدی شوم، چې څه به پرې تېرېده؟

***

د کاروان خلکو له صبر ګل سره د زوی په لټون پسې منډې ووهلې، خو هغه يې پيدا نه کړ، هېڅوک نه پوهېدل هغه څه شو؟ او کاروان نشو کولای تر ډېره په دې ښار کې پاتې شي، هغوی په دوهمه ورځ حرکت وکړ او په بل سهار د بختورې د وړوکي زوي پسې د غمه زړه و درېد، اوس نو صبر ګل هېڅوک نه لرل چې ورته ژوندی پاتې شوی وی، غوښتل يې ببرته له کاروانه ستون شي او په ګارنات ښار کې د زوی لټون وکړي، خو يو بوډا شتمن هغه و پوهاوه چې ګارنات ډېر لوی ښار دی او وبه ونشي کړی خپل ماشوم زوی ومومي، هغه صبر ګل ته دا ژمنه هم ورکړه چې له ځان سره به يې نوکر کړي او خوشاله به يې ساتي.
صبر ګل د سپين ږيري خبره ومنله او بيا له ډېر مزله وروسته هغوی هغه ځای ته لنډ شول چې کاروان وهونکي غله پکې اوسېدل، هغوی ډېر بې رحمه وو، په هېڅا يې زړه نه سوزېده، سپين ږيری، ماشوم، ښځه او نر يې يو هم نه پرېښودل بې د هغوی له مالونو، د کاروان د خلکو زړونه په درېېدو شول، صبر ګل د ښځې او زوی په غم کې ورک و، چې بادار يې د ورپېښېدونکي خطر په اړه وپوهولو.

صبر ګل وویل؛ که له ځانه تېر نه شوو ځان بایلونکي نشو په شا کولای او زه له ځانه تېر یم، یوائې ستا لپاره نه د ټول کاروان لپاره، خو که نور هم راسره مله شي.

سپین ږیری جېګ شو او د کاروان خلکو ته یې په لوړ اواز په خبرو شروع وکړه؛ د مالیس وګړو ! موږ هم هغه وسله لرو چې کاروان وهونکي یې لري، له هغوی باید ونه ډار شو، هغه داړه مار غله ځکه بریالي دي چې له ځانونو تېر دي او که موږ هم له ځانونو تېر شو وبه کړی شو هغوی مات کړو، د هغوی له شره به ځانونه وساتو، موږ کولای شو !

صبر ګل دې کار ته تیار دی، هغه صبر ګل راوغوښت، صبرګل ټولو پېژنده او د هغه سره یې په غم کې ځانونه شریک بلل.

شل ځوانان سرښندنې ته تیار شول، هغوی ځانونه په وسلو سمبال کړل.

سپین ږیري خلکو ته هدایت وکړ چې خپل اسونه دوی ته ورکړي، چې کامیابي یې په برخه شي، خلکو همداسې وکړل او بیا کاروان روان شو.

د کاروان څلور خواو ته پنځه پنځه کسان وګومارل شوو، چې د دښمن حملې ته تیار اوسي او صبر ګل خپله هره خوا د خبر اخیستو لپاره دورې وهلې.

کله چې لمر په پرېوتو شو په کاروان ډار پرېوت، ځکه تیاره راتله او له تیارې نه په ګټه اخیستو لار وهونکو کولای شول دوی تار و مار کړي او مالونه یې خپل کړي، د صبر ګل چغې سره ټول په خیریت کې شوو، لارو وهونکي له ختیځ نه مخکې راروان دي، هغه خپلو ملګرو ته وروستۍ لارښوونې وکړې، ویې ویل؛ موږ له ځان تېرېدنه قبوله کړې، هېڅوک مو نشي ماتولی، ډاډمن اوسئ کامیابۍ زمونږ ده.

پټ مخي سواره داړه مار په چغو رالنډېدل، د هغوی شمېر له ۳۰ زیات ښکارېده، صبرګل له خپلو کسانو سره مخې ته ور ودانګل، هغوی د ځان پسې خړه دوړه پرېښوده، صبر ګل له ټولو مخکې و، هغه چغې وهلې؛ موږ د کاروان ژغورونکي یوو.

لار وهوونکي د اټکل برعکس له بل څه سره مخ شوو، د کاروان ساتونکو په تورو او نېزو د هغوی هر کلی وکړ، هغوی ډېره پارېدلې حمله کړې وه، په څو شېبو کې یې د لاروهونکو د سرونو په غورځولو سره هغوی وارخطا او محاصره کړل، اوس هر یو د ځان ژغورولو هڅه کوله، خو یوائې څو تنه یې په تېښته بريالي شول.

صبر ګل د هغوی د وسلو راټولولو، اسونو رانیولو او خپلو زخمیانو پورته کولو امر وکړ او بېرته کاروان ته ستانه شول.

د کاروان خلکو خپل ژغورونکي ته هر کلی وکړ، د خوښۍ په چغو یې هغوی ټول بدرګه کړل او صبر ګل یې د کاروان په مشرۍ ولمانځلو.

اوس هغه کوم ورکی کس نه و پاتې، نه یې نور ژوند هغسې ښکارېده چې څو ورځې مخکې یې وړاندوینه کېده، اوس د هر چا په خوله د صبر ګل صفتونه وو، د مالیس ښار ته څو اس سپاره مخکې ددې زیري سره ولېږل شول، چې دوی د لار وهونکو په امان پاتې شوي، دوی له ځان سره شهنشا راوړی، داسې شهنشا چې له دې وروسته به زموږ د لوی ښار ساتنه هم کوي.

په مالیس ښار کې سپرو خلکو ته د صبر ګل قهرمانۍ اورولې او له هغوی یې غوښتل چې د هغه د هرکلي لپاره د ښار په لوی میدان کې راټول شي، هغه شهنشا دی، هماغه شهنشا چې موږ یې راتلو ته سترګې نیولې وې، موږ یې خوبونه لیدل، خو نن دوی ته رارسېدلی دی.

لږ وخت کې هر کور، دوکان، چوک او منډیانو ته د شهنشا نوم ورسېد او ټولو د هغه د لیدو لپاره کارونه پرېښوول، واړه او لوی، نر او ښځه راټول شوي وو، صبر ګل په تخت ناستی رانزدې کېده، هر چا په هغه کې سترګې خښې کړې وې، داسې لکه چې نور یې هم دقیق لیدل غوښتل.

خلکو د شهنشا د استوګنې لپاره د ښار لویه ماڼۍ غوره کړه، شتمنو د هغه طبيلي ته اسونه او بې شماره وینځې او خادمان ولېږل او په څو ورځو

کې هلته یو پرتم اچوونکې ماڼۍ سینګار شوه او صبر ګل د باچايي په تخت کېناست.

نور نو چا نشو کولای د ښار د خلکو مالونه لوټ کړي، نېزې يې په سینو ننباسي او توري يې په وینو سرې کړي، هغوی ساتونکی موندلی و او د وخت په تېرېدو خپله شهنشا ته هم څرګنده شوه چې زه ساتونکی یم، خو لارښوونکی نه یم او همدا هغه وخت دی چې د لرګو ښار جوړ شي.

لوی باچا د ترکاڼۍ د لوی استاد موندلو لپاره د ګارنات ښار ته د تلو تکل وکړ، خلک نه پوهېدل باچا هلته د څه لپاره ځي؟ خو د هغه د بدرګې لپاره لوی کاروان تیار شو او د ګارنات ښار ته يې سفر پیل کړ.

***

د ورځو نه یوه ورځ د ګارنات ښار په رباط کې د باچا کاروان واړول او له دمې وروسته د ښار په سیل ووت، هغه د مامین له مهارته خبر شوی و، د تور خان دوکان ته ورننوت، تور خان ته خپله بده ورځ ورياده شوه، چې یوه ګولۍ مړۍ ته به يې سترګې نیولې وې، خو اوس لوی باچا ده ته د کار سپارلو لپاره راغی، باچا ته يې احترام وکړ.

باچا د تورخان په ولي لاس ورکېښود؛ غواړم د ژوند په وروستیو کې د خپل یوائېني زوی ارمان پوره کړم، د هغه زوی ارمان چې زه يې یوائې خوبونو او خیالونو کې لیدلی شم.

تور خان د باچا د خبرو په سر او بر پوی نشو، مامین يې راوباله، هغه باچا ته احترام وکړ، تور خان باچا ته مخ کړ؛ زمازوی مامین د ترکاڼۍ د هنر بې سیاله استاد، هغه به په خپل هنر کې له تانه خپله مرسته ونه سپموي.

باچا مامین ته ژور وکتل، د هغه په سر يې لاس تېر کړ؛ ته د جایزې لایق يې، خو که ودې کړی شو زما د زوی د غوښتنې سره سم د لرګو ښار جوړ کړې او په لرګو به هغه څه ترسیموې چې زما زوی به يې خپلو بچیو ته ورزده کوي او هغوی به يې پاتې څلوښت.... باچا د مایوسۍ ساه واخېسته؛ بس هغه به همدا اسې ویل، زه نشم پوهېدی، هغه یو عادي انسان نه و، شل کاله

مخکې همدې ښار کې نادرکه شو، هغه به راستون شي، خو هغه وخت چې و پوهېږي ماورته د ارمان پوره کولو ټول وسایل چمتو کړي دي.....

د مامین سترګې ډنډ شوې او هلته د راټولو شویو خلکو اوښکې و څڅېدې، مامین د باچا د لاسونو ښکلولو سره وویل؛ سمه ده، کټ مټ به یې هسې جوړوم چې ستا زوی غوښتل.

تور خان اندېښمن شو؛ که مامین ونشي کړی نو، باچا به هغه ته د جایزې پر ځای سزا ورکړي او هغه به مې د ژوند تر ټولو بده ورځ شي، مامین به څنګه وکړی شي؟ په هېڅ نه پوهېده، د مامین خبرې په خیریت کې کړی و، خو څه یې ونه ویل.

مامین یو نظر خپل استاد ته وکتل د هغه په ګونګې وهلي حالت له پوهېدو سره یې وویل؛ عالي جنابه! تا چې د هغه ښار لپاره کوم ځای غوره کړی، ترې دېوال چاپېره کړه او بیا د ښه نه ښه لرګی د هغې لپاره راونیسه، هلته دومره لرګی پکارېږي چې په اخیستلو به یې ته ټوله شتمني له لاسه ورکړې...... مامین څه شېبه په ځمکه سترګې خښې کړې، ټولو د مامین خولې ته کتل، هغه بیا په خپرو پیل وکړ؛ زه به ستا ارمان پوره کړم، خو که ته تیار یې، ځکه موږ د لرګو ښار جوړو، ستا زوی همداسې غوښتي.

د باچا سترګې نمجنې شوې؛ تیار یم، زه د هغه په ژوند ملنګ وم او له تلو وروسته یې باچا شوم، هر څه ته تیار یم او یو ځل بیا به ښې ورځې ته سترګې په لار اوسم.

باچا له دوی سره مخه ښه وکړه، خو په مخ یې د مایوسۍ نښې نه وې، په هماغه پرتم چې راننوتی و ووت او له سترګو پناه شو.

د باچا له تلو وروسته د تور خان له دوکانه بیروبار کم شو او کله چې وروستی کس هم ووت، تورخان په اوترۍ مامین له دواړو اوږو ونیولو ؛ مونږ باید کورته لاړشو، هلته به سره خبرې وکړو، داسې خبرې چې زه یې لېونتوب ته لنډ کړی یم.

مامين دوکان بند کړ او عجبه دا وه چې د نورو ورځو برعکس يې د کار جامې ونه ويستې، هغوی په کوڅه کې په تېزۍ روان وو او خلکو به يې په ليدو پسپسک کولو، تورخان پو هېد چې د باچا راتلل هغه ته د وياړ ښېښل دي، خوبيا هم ځورېده.

کله چې کور ته ورسېدل مرينه وارخطا شوه، ځکه هغوی کله هم د تيارې خورېدو مخکې کورته نه راتلل او دې داسې ځرګندوله چې څه رامنځ ته شوي، ويې وويل؛ څه شوي؟ او بيا يې اوښکې روانې شوې.

تورخان خپله ښځه د باچا په راتګ وپوهوله او بيا يې مامين ته مخ کړ؛ هه ، ته څنګه کولای شې په يوائې ځان د لرګو داسې ښار جوړ کړې چې ځلوبښت زره کسان پکې استوګنه وکړی شي؟ او هر څه داسې جوړ شوي وي چې د باچا زوی يې خلکو ته ورزده کړي؟ ته دا څنګه کوی شې؟

مرينه نوره هم وارخطا شوه، مامين لا چوپ و، ښځې او خاوند د هغه جواب ته انتظار ويست.

مامين وويل؛ يوه مياشت وروسته به د ښار په جوړولو کار شروع کوم، تاسو به وپوهېږئ چې زه څنګه د لرګو ښار چې باچا يې غوښتنه وکړه جوړوم، تور خان ته يې مخ کړ ؛ ما شل کاله له تاسره کار وکړ او کار مې دومره شهرت وموند چې باچاهم له مونږه دکار غوښتنې ته راغی، ما هغه بېنوا نشو لېږلی، زه به يې هماغسې ورجوړ کړم، چې څنګه د هغه زوی غوښتی.

هلته به کلونه کار وکړم او کله چې ښار جوړ شو د باچا زوی به په خوښه د لرګو ښار کې استوګنه غوره کړي.

***

د مالیس خلکو د تل په څېر د شهنشا د راتلو هرکلی وکړ، هېڅوک د لرګو د ښار په اړه نه پوهېدل او کله چې شهنشا له دمې وروسته خلکو ته د زیرې اورولو خبره وکړه، بې شماره خلک راغونډ شول.

شهنشا وویل؛ زه لومړی د کاروان ساتونکی شوم او بیا د مالیس، تاسو ټولو ته زما د ژوند کیسه درمعلومه ده، د ورک زوی په اړه مې خبر یاست چې شل کاله وړاندې په ګارنات کې څنګه مونږ پرېښوده، تاسو یو هم د هغه په اړه نه پوهېږئ.

هغه څو شېبې چوپ شو، هره خوا درنه چوپتیا غالبه وه.

مونږ د لرګو ښار جوړوو دا زما د زوی غوښتنه ده، هغه به ستاسو لارښوونکی شي، زه مو ساتونکی یم.

تاسو سکون نه لرئ، کرېږئ، هر انسان د یو ستر کار لپاره پیدا شوی، مونږ د لرګو د ښار جوړونکي نه یو، خو د ښار د لرګو پوره کوونکي یو، مونږ ټول د همدې کار لپاره پیدا شوي یو، د یوې لوی معجزې د رامنځ ته کولو لپاره، چې د لرګو د ښار جوړولو وروسته به رامنځ ته کېږي، کله چې زما زوی د لرګو ښار کې استوګن شي.

چغو انګازه جوړه کړه؛ مونږ د لرګو راوړونکي یوو، د ښار د دېوال جوړونکي یوو او د لرګو پوره کوونکي یوو.

څو شېبې وروسته خاموشي شوه؛ شهنشا وویل؛ د مالیس ښار وروستۍ برخه چې لوې رغیانې(په وښو پوښل شوې) نبولې، د لرګو د ښار لپاره تر ټولو ښکلې ځای دی، هلته د لرګو راوړو کې صبر نشو کولای.

***

کومه شپه چې د مامین ګارنات ښار کې د اوسېدو د شلم کال د پوره کېدو شپه وه، هغه باوري و چې د ارمان د پوره کېدو شپه یې ده، خو نه پوهېده چې څنګه؟ او څوک ده ته د لرګو د ښار هنر ورښودی شي؟

مامین د خپل سامان په ټولولو اخته و چې مرینه ورننوته، مامین ورسره خوا ته کېناست.

- مامينه زويه ! ته په يوا ځې ځان د لرګو ښار نشې جوړوی.

مامين يې ډېر خيال ساته خو خبره يې ورپرې کړه؛ ډېر ژر به لاربنوونکی ومومو، نن شپه هماغه شپه ده چې د ژوند لپاره نيولي ارمان ته ورسېږم.

تور خان هم راننوت، مرينې مېږه ته له ليدو وروسته وويل؛ مور، تاته لاربنوونکې روزلې...

د مامين سترګې وازې پاتې شوې؛ لاربنوونکې !

تور خان په کټ کېناست؛ زما لور ، ذهينه لور مې، تاته هر څه درښايي.

- کومه لور؟

مرينې وويل؛ ته يې نه پېژنې.

- هغه تر اوسه چرته وه؟

مرينه ور وړاندې شوه؛ په ځمکتله کې، ته له رڼا مخکې له کوره وځې او په تياره راځې تا کله هم نه ده ليدلې.

د مامين له خوښۍ اوښکې روانې شوې.

تور خان وويل؛ زويه ! کله چې له مور سره يو ځای شوی يې پوهېدلي يوو چې ته د يو ستر کار لپاره پيدا شوی يې، څه وخت چې مو وليدل ستا ټول فکر په کار کې بوخت وي او هغو مره ښکلی کار چې ته يې تر سره کوې په مخ د ځمکې څوک نشي کولای نو مرينې ته مې خبر ورکړ، دا د ترکانۍ تر ټولو لويه استاده ده، ده زه روزلی يم او ماته روزلی، خو ستا کار له مور دوا ړو ښه و ، مور خپله لور چې ستا همزولې ده له تا پټه وروزله.

کرکنې ځمکتله کې بېشماره کورونه جوړ کړي، هغه د لرګو د کورونو سره مينه لري او ډېر ژر به يو وړکوټی د لرګو ښار جوړ کړی شي، کله چې تا هغه وليد ، نو د لرګو د ښار جوړولو په نقش به وپوهېږې.

مامين وويل؛ ما تر هغې ورسوئ !

مرينې د هغې رهنمايي وکړه، کله چې ځمکتلې ته ننوتل نو مامين نشوه باورولی، هره خوا واړه واړه د لرګو کورونه جوړ شوي وو او هغه

بيخي د لرګو وړوکی ښار ښکارېده، بيا يې کونج کې وليدل چې کرکنه د نوي کور په جوړولو له دوی بې پروا لګيا ده ، د هغې اوږدې کمڅۍ په ملا راغوړېدلي وې، مرينه ورمخکې شوه او لور يې دده له راتلو خبره کړه.

کرکنه د مامين لور ته په ناز راغله، هغه ته يې په څوکۍ د ناستې وويل او خپله ورته مخامخ کېناسته.

مرينې هغوی يواځې پرېښودل.

مامين صبر ونشو کړی؛ ته په هغه څه پوهېږې چې زه يې غواړم؟

کرکنې وموسل؛ پوهېږم، د لرګو ښار د باچا ورک زوی غوښتی او زه به يې جوړونکې يم، کله چې ښار جوړ شي، د باچا زوی هلته راځي او له ما سره واده کوي او چې زموږ بچي رالوی شي، هغوی ته به هغه څه ورزده کړو چې د ښار په لرګو به نقش شوي وي.

مامين د هغې لاسونه په خپلو لاسونو ونيول؛ لومړی يې ماته راوښايه.

کرکنې په لرګو کښل شوې ليکې وروښودې؛ ماداسې څه کړي چې تاته به نوې وي.

مامين په حيرانۍ په لرګو پرتو نقشونو ته کتل، عجبه دا وه چې هېڅ کوم لرګی له نقش پرته په کوم ځای نه و لګېدلی، دا رښتيا هم هغه ته نوي و، په زوره يې وويل؛ ماته نوي دي، ما چې د لرګو کوم ښار غوښته هغه همدا نقشونه لرل.

کرکنې وموسل: موږ به د لرګو ښار کې همدا نقشونه باسو.

مامين ور وړاندې شو: دا هماغه دي، ماته يې رازده کړه.

-لومړی به يې د بادشاه زوی يادوي.

-هغه زه يم !

د کرکنې سترګې وازې پاتې شوې؛ ته....ته.

-زه د لرګو د ښار غوښتونکی او جوړونکی يم. د بادشاه زوی زه يم.. زه.

.کرکنې په خوښۍ وويل؛ موږ يو بل ته پيدا شوي يوو. موږ به په شريکه ددې نقشونو روزنه ورکړو او ټول به له بدبختي راووځي.

مامين وويل؛ همداسې به وشي.

کرکنې زياته کړه؛ مخکې له هغې چې ارمان ته ورسېږو ارمان کې د اوسېدو او تر اخره تلو چل بايد زده کړو.

ـ کولای شو، همدې ته پيدا شوي يوو.

کرکنې خنداک ګېلا سونو کې واچول؛ زه تاته د لرګو د ښار راز درښايم، هغه به د خوشبختۍ ښار وي، هغوی چې يو اځې مينه به پېژني، هلته به د خوښۍ دروازې ببرته وي، وېره به وجود نه لري او هره نېکمرغي به پکې راټوکېږي، چې د ښار خلک به يې په نورو انسانانو شيندي.

کرکنه چوپ شوه، مامين وويل؛ کله چې تا ماته، موږ اولادونو ته او هغوی ښار ته راننوتو ځلوېښت زره کسانو ته دا نقشونه وروښول هماغه معجزه به ترسره شي، چې ټول ورته انتظار يوو.

# لیکلړ

موضوع
مخ

شپېلۍ.......... 1
لسګون.......... 3
ترنم.......... 7
پټ مخي.......... 8
امتحان.......... 20
د بوټانو ترپار.......... 22
جادوګره.......... 24
پای ته ورسېده !.......... 29
شهوت.......... 40
ګورګوره.......... 42
بنبنه.......... 47
له سپیانو تېښته.......... 49
معجزه.......... 59

Downloaded From :
Telegram : Aryan Pashto Library
WhatsApp : 00971501455350
Facebook Page : آریان پښتو کتابتون